پریشانه افکار:

مشر څوك دی؟

چه خپل دا منی دبل دانه ...؟!

چه دی وایی هغه حق ، چه بل وایی هغه ناحق ؟!

غوزونه ئې روغ وی، اروی څه نه؟

ستر گی ئی وی خوحق نه په وینی ؟!

لیری ورته نژ دی وی. نژدی ځنی لیری ؟ !

پو ښتنه کوی مگر ځواب اروید لو ته تیار نه وی ؟!

بل ته وایی پخپله نکوی ۰۰؟!

کله دومره لویی واخلی چه دیوها نوخبری نه غوز نه زدی او کله دومره تیت شی چه ډمان ئې په کډا راولی ؟ !

ترځان پور ته نه وینی ، خوپه کار ونوئی ډیر تیت سړی شرمیږی ؟!

کشر توب غواړی، مگر دمشرتوب چل نه ورځی؟!

دکشرانو ژوند غواړی، خویوازی دځان دپاره ۰۰۰؟!

دوطن دلوړتیا سره مینه لری، خوپه خبرو؟!

اقتصادی نهضت غواړی، خو، چه توله پانگه دده دپاره وی؟!

وایی «خپل دامی خپله کړې دبل دامی هم خپله کړې!»

سلام په ورځو اخلی اوخپله چاته سلام نه اچوی؟!

کار بل کوی، شاباسی ئې دی اخلی ؟! (بینوا)

JUL 6 - 1948
596
Put4
14

(۱۸ کال) د حمل ۱۵ - ۱۳۲۷ (۲ گڼه)

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره مجله

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

د پښتو ټولنی له خوا نشرېږی

لوی مدیر : عبدالرؤف « بینوا » د پښتو ټولنی مشر

داخلی مدیر او مهتمم: یار محمد « نظامی » د صحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه

اشتراك

کابل :	۳۶	افغانی
د ننه مېنه :	۴۰	«
دباندی :	۱	سترلنگ پونډ
دښونځیوزده کوونکوته :	۱۸	افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
د ودانۍ اوپر مخ تګ اباری	ښاغلی «رشتین»	۱
نوی کال اونوی آرزو ګانی	« «فدائی»	٦
دیتی خولی فائدی	د « «نظامی» ترجمه	۸
څه وکړو ؟	له مشرقی اتحاده څخه	۱٤
غزل	ښاغلی «حبیبی»	۱۷
دور ور ګلوی ږغ	له طلوع څخه	۱۸
پښتون اوسه تل	ښاغلی لعل ګل خان	۲۲
پښتونه	« «پتنګ»	«
لحما دمحبت شپی ورځی	« «سیلانی»	۲۳
دحیدر آباد دامجد شاعری	د « «سیفی» ترجمه	۲٤
د پښتنو منظوم روایات او نکلونه	« عبداللطیف جلالی	۲۸
سیرة النبی	د « «کشککی» ترجمه	
د پښتو اشتقاقونه	« «رشتین»	
تو کې تکالی	« «زلمی» له قندهاره	
عکسونه (٥) قطعه		

د کابل دمجلی دتیری ګڼی ددې پاڼی

دلمړی مخ تصحیح

په تیره شماره کښی : (۱۷ کال) د حوت ۱۳۲٦ ۱٥ (۲۱) ګڼه طبع شوی و

داسی دی ولوستل شی : (۱۸ کال) د حمل اول ۱۳۲۷ (۱) ګڼه

200620653

دبیرغ دیورته کولوپه ورغ دمزار دښاغلی نائب الحکومه پاچاهی فرمان قرائت کوی .

په مزار شریف کښی د مبارك بیرغ پورته کیدل د حمل په
اوله ورځ - ۱۳۱۷

(دښاغلی تیمورشاه خان دافغانستان بانك کاتب په مزارشریف کښی لیږلی .)

دودانۍ اوپر مخ تګ لیاری

ښاغلی صدیق الله « رښتین » :

په‌دې ټول پو هېږو چه مونږ ددنیا له بیدارو او ویښو قومو نوا و اولسو نو څخه ډېر وروسته پاته یو. خلك نا پو هه، ژوند بې‌خونده، سړ کونه خراب، زراعت ګډوډ او صنعت خو په هیڅ حساب دی.

مو نږ تقریباً نولس کاله په پوره آرامۍ اوبې غمۍ سها را وما زیګر خپلو ادارو او دفتر ونو ته‌حاضر شوی یواودحاضرۍ کتابونه مو لاس لیك کړی دی، ډبلې ډبلې تنخواه ګانې مواخستی دی، ډېرڅه مووبلی دی آسمان مو په خبرو را کوز کړی دی، مګر اساسی کار بلکه‌نومی کار مو هیڅ نه‌دی کړی.

ولی که چېری په‌دې شل کاله کښې دې‌پنځلس ملیونه ملت په‌صحیح صورت کار کړی وای نویقیناً به‌نن وطن ګل او ګلزار وای.

خیر ـ دومره مده‌خوپه خوب یاپه بې‌پر وایۍ تېره شوه، مګر پس له‌دې ویده پاته کېدل دمرګ‌اوفنا حکم لری. ښایی چه زمونږ غټان اودا دارو خاوندان اساسی کارو نوته مخ وګرځوی. اوپه تشوچغواونارو خپل قیمتی وخت تېرنه کاندی.

لکه چه معلو مه‌ده تراوسه پورې زمونږ لوی لوی وزار تونه دتجربواو از مېښت له میدان څخه نه‌دی و تلی. زیات عمرپه نقشو، پرو ګرا مونو اونظریو کښې تیریږی. دمثال

په ډول بلدیه په‌دې‌دومره کلو کښې دیوې سمې‌نقشې په تا کلونه ده‌مو فقه شوې، کله په برخای کښې دښار نقشه واچوی کله په‌بل ځای کښې، کله یوې خوانه و دانی شروع کړی کله بلې خوانه، ځای په ځای خراره واره هرڅوك په آبا دی‌لګیا دی، مګر څه سروبر ئې نه معلو میږی چه‌څه وشول اوڅه ونشول. داخو می دنښی په ډول یومثال وښود په‌هره اداره اوهر ځایکښې همدغه حال‌دی‌داځکه چه‌دلته لاد کار صحیح مفهوم‌منځ ته‌نه‌دی راغلی، زموږ دهرو آمرانو په خیال کښې لوی کار حاضری ور کول اوهر ساعت تك سلام علیك ویل دی.

که‌چیری په‌صحیح صورت دکار پوښتنه دښه اوبد پیژند نه، په خپل خپل ځای نمانځنه اوزو رنه وای، نو یقین دی چه زمونږ حالت به داسی نه‌ؤ لکه چه دی.

که‌ته نن هم داسی ئې څنګ چه پر ون وې‌نو افغانه ماته ستا سبا معلو م شو داخو می‌تول‌مجملات وویل اوخدای شته‌چه زماله مجملا تو او په شلو پردو کښې تاوعبا راتو څخه‌بدرا ځی. دمطلب اومقصد خبرې ښکاره او سپینی ویل پکار دی.

نودا دی دپرمخ تګ یوڅو اساسی خبرو ته می غوږ ونیسئ:

۱ - د تولو خبرو نه لومړی خبره د تعلیم او پوهی ده. په دې‌لار کښې که تراو سه څه شوی‌وی دیر کم اولږ دی، داد اتوم او برینښنا عصردی. په‌دی‌عصر کښې دمیږی په پل باندی تګ د نه تګ سره برابر دی، له دې کبله ښایی چه د معارف په پروګرام کښې زیاتوالی راوسنی‌شی، نه دا چه په ځینو ځایو کښې له پخوا څخه هم د مکتبو نو شمیر کم کړی‌شی - مونږ اوریدلی دی چه په قندهار کښې دیر مکتبو نه لغوه شوی دی، دا څومره د خپګان خبره ده، د پښتنو په یو داسی ځای کښې د ښو نځیو لږول له خلکو سره بدی کول او پرشا تلل دی. بله خبره داده چه باید په تولو ځایونو کښې په مساوی او برابر صورت د تعلیم سلسله وړاندې بوتلی شی. په نورو ځایو کښې له ایسو څخه شاګردان ووتل مګر په ګردیز او جلال آباد کښې د ایسی درک هم نشته. په درست مشرقی او جنوبی کښې یولیلیه مکتب وجود نلری، حال دادی چه زمونږ غریب او بی‌وسه خلك چه په خپل خرڅ تعلیم نشی کولی، تول په دغو ولایاتو کښې دې‌له‌دې کبله دمعارف اخلاقی فرض دی

چه که په زیات صورت نه وی ، په مساوی صورت خوددغو ولایاتو د تعلیم سلسلی ته توجه وکړی. که چیری په ځینو سرحدی ځایو کښې لکه (اسمار، سرکانی، کامه ، غنی خیل، اورگون ، خوست ، چخانسور) او نورو کښې لیلیه مکتبو نه جوړ کړی شی ، ډیر پښتا نه به تعلیم ته راواوړی ، او لویه سیاسی فایده به هم ځنی واخستله شی . (په دې برخه کښې ځینی نورې خبری هم شته خوسم دستی دی پاته وی)

۲ ـ دوهم اساسی قدم اخستل دمځکو اصلاحات ، د زراعت او کرنی زیاتول او ویالی نهرو نه ویستل دی . مونږ ته معلومه ده چه دهیواد په تولو ولایتو کښې دمشرقی ، جنوبی او فراه خلك نسبتاً غریب او بی وزلی دی . یه رومبو دوو ځایو کښې خلك ډیر او آبادی مځکی لږی دی ، او په دو هم ځای کښې داوبو دلږ والی له کبله تول وطن سپیره ډاگ پروت دی . نوددې خلکود آباد ولو ، مړولو او ژوند ښه کولو دپاره پکار دی چه د دوی دپاره دزراعت نوی مځکی پیداکړی شی ، ځای پځای نهرونه وویستیلی شی، بندونه جوړ کړی شی اود کاریزو نو بندوبس وشی .

دننگرهار دشلو دیرنو کالو نهر سراج همدغسی وچ کړس پروت دی اویونکی اوبه پکښې نه بودیږی ، حال دادی چه د تول مشرقی آبادی ، و دانی په همدې نهر پورې تړلی ده که چیری دانهر په ښه شان اوپوخ صورت جوړاوجاری شی نو دجلال آباد نه کښته تول دښتونه ترې لاندی کیږی او دمارکو اوبتی کوټ وچ ډاگونه پرې آباد یږی .

په جنوبی کښې هم دگردیزد سیند په سر کښې چه دمیرزکی له خوا راځی دی ، دبند جوړولو امکان شته ، دغسی په نوروځایو کښې هم که صحیح غور او پلټنه وشی داوبو پیدا کولو او مځکو آباد ولو امیدونه موجود دی . په فراه کښې څومره چه ماته معلومه ده داوبو د پیدا کولو او مځکو آباد ولو دری صورتونه لیدل کیږی :

الف ـ دفراه رود او خاشرود په سیند ونو باندې ښه لوی لوی بندونه جوړ پدی شی دا رود ونه دپسرلی پهوخت کښې ډیری اوبه لری په دې موسم کښې چه بندونه ډك شی تول کال ځنی فایده اخستل کیدی شی .

که چیری د خاشرود په برہ حصه کښې بند جوړ شی ، امید شته چه د بکوا اوی د ښت په تول د اوبو لاندې شی . په دې دښت کښې یوه زړه د ېره پخوانۍ ویاله هم شته او گمان کیږی چه په پخوانو زمانو کښې دبکوا دښت تول آباد او د کرنی وړ و .

ب ـ دفراه په علاقو کښې کاریزونه هم په ښه شان وپستل کیدی شی ، د فراه خلك وایی چه یوالحی په بکوا کښې پخوا درې سوه کاریزه موجود وو ، مگر نن اکثروران شوی او غورځیدلی دی . اوس هم په بکوا کښې یوڅو ودان کاریزونه شته او د ېرې اوبه لری . په خپله دفراه اکثر خلك عاجز او مځکی هم نه لری . مځکی تولې دیوڅو تنو خانانو په لاس کښې دی . خانان په خپله خپله ماړه دی له وچو مځکونه هم ورته دومره حاصل راځی چه د دوی خانی پری کیږی او د غریبانو او بزگرانو ور سره څه پر وا نشته .

دانو د زراعت د ریاست او زراعتی بانك وظیفه ده چه له د غو خکلو سره مالی امداد وکړی او د کاریز ونو دوخکلو دپاره په نیټو او کشتو نو پیسی ورکړی .

ب ـ په فراه کښې کویان او ځا گا نی زروځی او په پنځه شپږ گزه کښې او به راخیژی ـ نوله دې کبله دارټ جوړ ول هم پکښې د ېر آسان دی . ارټ په لږ و پیسو جوړیږی ، که دې کارته د چا مخه شی نوهر زمیندار په یوه ارټ باندی یوه کولبه مځکه کرلی آباد ولی او خوړلی شی .

۳ ـ دریم اساسی کار په دې وخت کښې د کار خانو جوړ ول او زیا تول دی . په دی برخه کښې هم دغه درې ولایتونه له نورو ولایاتو څخه وروسته پاته دی . نه پوهیږم چه وجه به ئی څه وی ؟ مگر زما په خیال دا ولایتونه په دې حصه کښې زیات مستحق دی . په مشرقی او جنوبی کښې که کومه کار خانه نیمه جوړه شی نو څو فایدې به ترې لاس ته راشی ـ هم به خلك په خپل کور او وطن کښې مزدوری پیدا کړی ، لږ ډېر به په کیده ماړه شی ، اوهم به دمزدوری او نوکری دپاره د خارج له تلونه خلاص شی . دغه خلك چه تول عمر په هندوستان کښې پردی کارونه کوی ، دهند او مزدوری ورته شرم نه ښکاری ، یا کشمیر له منډې وهی او ځانونه و ژنی ددې تولوخبرو وجه لوږه او تنده ده . که دوی له په خپل وطن کښې کار روزگار پیدا کړی شی نو ولی به یا دگیدې د پاره نورو له ځانونه وژنی او ولی به دا دومره سیاسی مشکلات پیدا کیږی .

په دې برخه کښې زيات مسئوليت دا قتصاد په غاړه دی . اوس چه يو صناعتی رياست هم جوړ شوی دی ، پکار دی چه دی خواته پوره توجه وکړی او ددې لوی کارد پاره چه ډېری سياسی او نورې فايدې هم لری ؛ عملی قدم واخلی . په مشرقی کښې سمدستی دلرګيو او اره کشی کار خانه ، او دګنيو د بوری کار خانه جوړيدی شی ، چه ښه او موزون ځای ئې ثمر خيل دی . جنوبی هم دلرګيو ار اره کشی د کار خانی دپاره مساعد او وموزون ليدل کيږی . په دی کار خانو کښې که چېری د ودانۍ دسامان نو ، در واز و ، کړکيو ، چوکاټونو او نورو شيانو د جوړېدو انتظام وشی نو دا به يو لوی دروند کار وی چه له دغو ځايو څخه به د وطن هرې حصی ته تيار سامان وړلی او لېږلی شی . دغه شان په فراه کښې هم دوړيو دونېځلو او وابدولو کار خانه چلېدی شی ، ولی چه دغلته دوړيو پيدايښت زيات دی . که چېری کار خانه ورته جوړه شی نو ددغې علاقی د آبادۍ دپاره به ډېرې ګټی ځنی لاس ته راشی . په دی کار خانو کښې به له يوې خوا د وطن غريبو او عاجزو خلکو له مزدوری پيداشی او له بلی خوا به د وطن صنعت او فن ترقی او پرمخ تګ وکړی دستی به په دې ځای بس کړو او نوری خبرې به بل وخت ته پريږدو ! !

نوی کال او نوی آرزو گانی !؟..

نیک محمد «فدائی میلنی»

پوه اوویښ پښتون ښاغلی «بینوا» صاحب !

توری اوبه اوری تا لنده کنهار کوی، د پسر لی و زمی سپوږ مو ته رسی، ځکه ژمی تېر ېږی پسر لی راځی !!

هو کی، پسرلی دی، پرو سږ کلن کلیز ختمېږی پاڼی ئی نغښتل کېږ ی، او د هغه ځای نوی کلیز نیسی اداری او حسابی میرزا یان هم خپل دفترو نه نوی کوی او کار له سره شروغ کېږی. په نبا تاتو کښی هم د زرغونیدلو فعا لیت ښکاری، یعنی پسر لی له ځا نه سره نوی ژوندون راوړی !

په نوی کال کښی یو متعلم به دا آرزو لری چه خپل درسونه په کا میا بانه ډول زده او کا میاب شی، دهقان هم دیوی او کر په فکر کښې وی، مځکوال او زارع دنیا لګو کښېنولو او دو یالو د پا کولو غم خوری، درزی هم د پسرلی د کالیو کتلاك راباسی، چوغکی هم د ځالی په جوړولو بختی دی، تاسی به هم شاید دا آرزو لری چه مجلی او خپلو نورو کاروته لیانوی جدی او د تجدد جامه وروا غندی ؟! خو مقصد دا چه ټولو ژویو په حرکت او فعالیت پیل کړی شپون د خپلو رمو او غیلو په څړاو مړښت او ارامی خوښ دی ؟! د ښتی شنی زرغونی او شاعر هم له طبیعی تابلو او مناظرو څخه نوی نوی الها مونه آ خلی ...

څوك څه آرزو لری او څوك څه ! څوك د څه شی او څوك د څه شی !! ځکه چه طبائع مختلف او دهر چا ذوقونه بیل بیل دی او دا، پاس ټولی ښی آرزو گانی دی منګر په دی نوی کال کښې زما آرزو گانی ؟ هو زما آرزو گا نی ؟! ... خیال مکوه چه زه دی باغوا ومانیو په شوق کښې غرق یم، یا لاری او نیز رفتار مو ټران می زړه غوا ری، او یا په کو مه ښکلی نازنینه او پې مخی پیغلی مین یم او آهونه آسویلی پسې کوم، یا په بانګ کښې غټه سرمایه او یا کومه لویه ډ که مغازه د تجارت او یا لوی ښوی میز او پسته چو کی می زړه غواړی او ...

نه‌زما آرزو ګانې په‌نوی کال کښې مشروعی‌اور وادی! خیردی که داپاس شیان یوهم نلرم!! منګردهغو عوض‌داسې یوه‌ښه‌برخه چه‌هغه ته‌لیو توب اودرد وائې، راسره‌مو جوددی چه‌دا دواره‌آرام اوهو ښیا ران‌نه غواړی اونه‌ئې خوښه وی، ځکه چه دادواره څه ما دی ګټه نلری بې له زیانه!!

په‌نوی کال کښې زما آرزو ګانې دادی:

۱: چه‌ټول پښتانه له‌آمو نیولی ترسند سره یوشی، دوحدت او ورور ګلوی ژوندو لری. دسل اوڅو کلنی تپ درمل و کړی او له نورو کامو پند واخلی، له دی پسه پښتانه دنو رو مریونه نوی اوپنجا بیان پرې آغا ګر ی ونکړی، او په کشمیر خپلی وینی بیځا یه او بې خیره توئی نکړی! دخپل معارف او خپل اقتصادی وضعیت غم وخوری!!...

۲: دپښتو ژبې غم خوړل او هغی ته‌توجه کول په کا ردی!؟

۳: دکا بل‌مجله‌اودمشرقی اتحاد اودمو نبزنورویښ اخبارونه اوجرائد دا خپله اوسنی پالیسی‌تینګه اوبلکه څه‌نورهم جدیت او تجدد پکښې راشی!؟...

٤: ویښ زلمیان لیاویښ اومو جودیت اومر کزیت ومومی او تقویه شی.....

٥: دفضل الهی غوندی خلك چه «غلطی‌های عدیم‌المثال جهان» په نوم ئی رساله لیکلی داسی کام د ښمنه پښتانه په سوندك سوندك سو کان وخوری!! اوپه غضب الهی شی...

٦: اود«سیال» غوندی سیالان نورهم‌را کښې بیداشی اودداسې سیالانو قدراو عزت وشی.

۷: بینوا یان‌موپه په‌نوا، له‌سلمی رښتین‌توب اوصافی موخوی اوخاصیت محبت او الفت موهدف د کام اوخپلی پښتنی توانی خادم اوفدائی او سو..

۸: اوضمناً دخوارو وبې، زلو تنخوا خورومامورینو داقتصادی اوضاع خرابی هم‌له نظره ونه غورزی!!؟ ..په‌نقده خوپه‌دی کال کښې داآرزو ګانی چه پوره شی‌بس دی او کنه داآرزو ګانو میدان خودو مره ارت او ووسیعه‌دی چه خدای زو دتو لولیکل هم څه آسا ن کارندی.او نه دادر یاب په‌یوه کړی کښې ځائیږی!... اوس او س خوددی کال له‌پاره داآرزو ګانې کافی دی که‌ژوندوچه‌بل کال بیارا نوی کیږی شایدنوری‌نوی‌آرزو ګانی هم‌را پیدا شی، خوخدای دو کړی چه‌دا سبزنی آرزو ګانې می سر نه ورسیږی اوار مان می ووزی، تاسی وائې آمین.

د آر تور بریان اثر :

دپټمی خولی فائدی

پښتو کو ونکی « نظامی »

مونږ ډېر خبروته شوق لرو، اما فکرلږ کوو، که وغوا ړو چه ز مونږ خبری څه تاثیر وکړی، دهغه تر شا باید یوفکر موجود وی، زمونږ په هوا د کښې خبر لوڅ او گړېدونکې ځښته ډېردی اومونږ دېر گوئی او د ډېرو خبرو خلك اود عمل څخه لری یو .

په هر ځای کښې چه وی مرکه موخو ښه ده، په اداره، کور او په نوروځایو نو کښې تل خبری کوو که اتفاقاً دخبرو څخه فارغ شو فوراً دنورو په غیبت باندی شروع کوو .

دهوا اوداقلیم وضعیت اودژوندانه دایمی جگړې اونورو عوامل مونږ عصبانی او ناراحته تربیه کړی یو، نارینه زمونږ په هېواد کښې دزلمیتوب او دځوانی په وخت له کاره وځی اوز ړیږی، ددوی دسر ویښتان رژیږی اویاژر سپنیږی او د ډېرو خبرو عادت نیسې، داداسی مثال لری چه دجامعی افرا دخپل ځان دطو طیانو په خونه کښې تصور کړی، او که دمرغانو آواز خاموش شی، داسی ښکاری چه پر هغوی باندی یوه حادثه نازله شویده، دتوضیح لزوم نشته، چه دتکلم قوه دانسان دلویو امتیازو نوڅخه ده، دلیك او خبرو په وسیله سره بشری معلومات اومعارف دیو نسل څخه وبل نسل ته انتقال کوی، مگر دمونږ خبرو په مورد کښې اعتدال له لاسه څخه ورکړی دی، او اوس دخاموشی نعمت ته ډېر احتیاج لرو .

مونږ لکه هغه کوچینان یوچه یوازی پاته شی. نوپه ژړاپیل کوی ځکه دهغوی ماغزه کار کولای نشی، اوله دی امله دوی په وحشت کښې لویږی .

خبرلوڅ ملت په حقیقت کښې دکوچینانو څخه یوه ټولنه ده چه رشد اونموئی کړیده، اود خبرو اترو څخه خوندا خلی، اوپه یو ازیتوب اوپه متمادی تفکراتو عادت نه لری .

رښتیا زمونږ دپاره څونه مشکله ده چه پر له پسی دوی، دری دقیقی په فکر کښې مشغول شو، او خپل ځان په تفکرا تو عادت کړو، او یوه موضوع دخپل تفکر دپاره وتاکو.

مثلاً تصمیم ونیسو چه لږ دلا یتناهی فضا په موضوع او وخت او زمان کښې فکر او په خپل ذهن کښې دنړۍ دبیکرانو دوسعت څخه یو تصور مجسم کړو، او کوښښ کړو چه تر درو دقیقو خپل فکر ته دیوی موضوع په شاوخوا کښې تمرکز ورکړو د کلیود کو چینانو او دبنا ری کو چینانو په منځ کښې تفاوت دادی، چه د کلیو کو چینان تل یوازی او دخپل نفس سره پـه خلوت کښې وی، او که لږ د تربیت او دهوښ خاوند وی هـرو مـرو متفـکر کیږی او اغـلب ددوی دتقدم او کـامیابی سر ددې موضوع څخه کیږی.

« نیو تن » ، په هغه حال چه یوازی په سپوږمۍ کښې ناست وو او تفکر ئی کـاوه یوه منۍ ئی ولیده. چه نابیره دونی څخه پرځمکه ولویده، په همغه ځای دده په دمـاغ کښې یوفکر تولید شو، او نوم ئی جا ودانی کړ، او دبشریت نړۍ ته ئی بی شمیره فـائده ورسوله، او د انسانیت د هوښ او افتخار باعث و ګرځیده، که نیو تن د یـوی تولنی سـره په خبرو کښې بوخت وای او لیدلی ئی وای چه په ځمکه باندی یوه منه و لویده ضرور به ئی د خوړلو هڅه کوله او یادنورو سره په خـبرو کښې مشغول وای نو هیڅکـله دده فـکر په یوه نقطه کښې تمرکز نه نیوه چه د خپل ځان څخه و پښتی، چه ولی سپوږمۍ لکه ددې منۍ په شان پرځمکه نه لویږی؟

کـار لائل پخپله یوخاموش او متفکر سړی و، او یوه ښه او غوره اشاره ئی د خاموشی او چپتیا په باب کښې کړیده، چه د هغه څو کرښې ستا سـو دپاره په دې ځای کښې د (سار تور زار توس) له کتاب څخه نقل کوو:

« سکوت او چپتیا که د معابدو دپیدا کیدو عصر سپری شوی نه وای، حق ئې داوه چه یو معبد جوړشی او دبشر جامعی په هغه ځایکښې په خاموشی د الله پر ستش و کړی »

سکوت یوه لویه کـار ګـاه ده، چه لوی افکار په هغه کښې جوړیږی، او په ښکلی او ممتاز ژوند د هستی په عرصه کښې پښه زدی او حکمرانی کوی.

نه یوازی د ویلیام خوله چه تل پټه وه، بلـکه نورټول تاریخی او لوی رجال چه مـونږ هغوی پیژنو پرخپلو شونډو ئی د سـکوت مهر لـګولی وه، او د خپلو افـکارو او نسبی له

ظاهر ولو څخه ئې خود داری کوله ، او ترهغه وخته پوری چه لازم نوو خبری ئې نه کولی.

راشیء اوامتحان وکړی ، دلبزو پیش آمد ونو او گرفتاری په وخت چه تاسوته پیښیږی فقط یوه ورځ سکوت اختیار کړی او خپلی ژبی بندی کړی ، د هغی ورځ په سبابه وویښی چه دونه تصمیمات اتخاذ کړی او خپل تکلیف په ښه صورت و پیژنی ، هغه وخت چه تاسی ساکت او پټه خوله ناست یاست ، یونامرئی او صامت عوامل دنفس په تزکیه کښې مشغول کیږی ، او زړه مو دناپاکیو څخه صفا او ستره کوی .

فرانسویان معتقد دی ، چه خبری د افکارو د اخفا وسیله ندی . ولی بلعکس زمونږ په نظر کښې دنفکر دخندولو او باطلولو موجب دی ، ځکه د خبرو په وخت کښې اصلا یوفکر نه پیدا کیږی چه خبری هغه پټی کړی .

خبره پخپل یولوی صنعت دی ،مگرد او یو فنونو پهقطار کښې نهشمیرل کیږی.پهسویسی ژبه کښې یوه کتیبه شته چه وائی : « خبری د سپینو زرو او پټه خوله دسرو زرو څخه دی » زما په زعم باید وویل شی : « خبری په خوله پوری مربوطی دی او سکوت په ابدیت پوری متعلق دی ، ماشی ولی بیلهتاریکی څخه کار نکوی او تفکر هم بی له سکوت او پټی خولی څخه یو کار انجا مولای نشی ، سکوت دوه ډوله دی :

دوز گارتیا سکوت ، اودمشغولتیا سکوت ، لمړی ډول سکوت دصحرائیخلکو یوایلهانه سکوت دی ، چه ساکت او پټه خوله دخپلی خونی پرچو تره باندی ناست او خپل سر یو خوا بل خوا ښوروی .

دوهم ډول دناپلئون سکوت دی ، چه پټه خو له ناست اود خپل فکر په دریاب کښې ډوب او دلویی نقشی پهجوړولو اود خپل امپراطوری دسختو مسائلو په حل کولو کښې مشغول ؤ ، هغه سکوت چه یوازی دآواز او خبرو قطع کول وی ، او کوم تفکر ورسره ملگری نه وی ، خوشی او بیفائدې دی .

مفید او فائدهمن سکوت هغه دی ، چه فکر پرهغه باندی ښه او کامل تمرکز ومومی اود یو موضوع دڅرگندولو په باره کښې تدقیق اوتعمق وکړی ، اود مادی او یا روحانی نړی په یو حقیقت کښې سعی او جدیت وکړی .

یو پوه سړی په خپل ټول عمر کښې دسپیو پالنه او روزنه کوله، کوم سپی به چه په یو مرض اخته کېده دهغه دټولو مرضو به ئې په یوشان او په یوه طریقه معالجه کوله اوهغه طریقه ئې داوه. چه یومریض سپی به ئی ۲٤ گړی په یومحفوظ ځای کښې ساتاوبی داوبو بل شی ئی هغه ته نه ورکاوه، اود ۲٤ ساعته وروسته هغه سپی جوړیده، هغه پوه سړی ددې خبرې علت داسی بیان کړی دی: چه سپی د ډېرو خوراکو په اثر مریض کېږی مگر یوازیتوب اوهوسایی او اوبه دده قوی تجدید کوی، بیائی مرض ښه کېږی.

زمونږ علیل او خسته دماغونه کله کله دیواز یتوب او سکوت دارو او درمل ته احتیاج پیدا کوی. ډېری بی اساسه خبری زمونږ روح اوفکر خسته کوی اوله کاره ئی باسی، اوپه دې موقع کښې زمونږ دعلاج طریقه هماغه معالجه ده چه هغه پوه سړی دسپی دپاره ټاکلی وه، که یو وخت په یوه لویه او معتبره تجارتخانه اویا په یوه اداره کښې ننه وځو په لمړی نظر به تشخیص و کولایشو، چه ددی مؤسسی دکارکنانو اواعضاؤ څخه کوم یودترقی اوپیشرفت دپاره مستعد دی، او تقریباً کلی قاعده داده چه دکار گرانو په ډله کښې هغه کسان چه ساکت ناست او خپلو کارونو ته متوجه او بوخت دی؛ هغه سړی ښه اود انتخاب وړدی. له دې کبله چه مونږ ډېری خبری کوو، حتی په کتابخانو کښې هم خلك مجبوره شویدی چه په دیوالونو کښې ئی لوحی ځوړندی کړی، او پکښې لیکی «چه چیغی او خبری کول منع دی» په کارخانو او بندی خانو کښې دخطا کارانو مجازات دادی، چه هغوی له خبرو منع کوی اودا دهغوی په باره کښې یوه سخته سزاده.

که وغواړو چه دزغاستی په مسابقه کښې شرکت وکړو باید لمړی مشق وکړو، که غواړو چه دیو سړی سره مبارزه وکړو لمړی باید چه غشی ویښتل اوتوری وهل زده کړو

هغه شی چه زمونږ دنجات دعلاج مایه ده تفکر دی حال دادی چه زمونږ له منځه لږ خلك دفکر کولو د پاره مشق کوی. او خپلو دماغو ته دمشق او تمرین په وسیله په زیاته اندازه وسعت ور کولایشی.

زمونږ اعصاب فقط تریوی معینی اندازی په ري درشد اوپرورش استعداد لری، او دهغوی قوه په معین سن مخ په انحطاط اوتحلیل ځی، لیکن دفکر توسعه او پرورش په هغه وخت کښې چه دبدن قوتونه سالم وی ادامه مومی او لدی جهة هرڅوك چه خپل دماغ ته

پرورش ور کړی او په هغه حال چه نور کسان په چټکی او خوشی خبرو بوخت وی او هغه تفکر کوی، تل مخ په ترقی او کمال ځی او په ډېرو موفقیتو نو نائل کېږی.

له دې اشخاصو څخه کوم یو خوښوی؟ هغه سړی چه متین او آرامه قیافه ولری، او په عین زمان کښې په تواضع اوادب لږې خبری کوی، او په فکر کښې مشغول وی، یا هغه سړی چه په چټکی ویلو اوخوشی خبرو ستاسو سره په درد راوړی، او تاسو پر له پسی په دې اندیښنه یاست، چه خپل کریوان دده دمنګلو څخه څنګه خلاص کړی؟

ډېرو اشخاصو دسکوت په وجه اود لېږو خبرو په وسیله ترقی کړیده اوس وګوری هغه کسان چه حقیقتاً دتفکر اوسکوت خاوندان اودخپلو دماغی او معنوی قوتونو په پرورش کښې مشغول دی ترکومی اندازې ئی په خپل ژوندون کښې موفقیت حاصل کړیدی ډېری خبری کول یو بدعادت دی! چه سړی ددنیا په کارونو کښې ناکامه کوی او په مشکل بری موندلایشی.

ددې بد او ناوړه عادت سره جګړه د تقلب او دروغ ویلو د مبارزی په اندازه سخته او دشواره دی، مګر سره ددې د تمرین او ممارست په وسیله ممکنه ده چه ورو ورو او په تدریج پردی بدعادت باندی سړی غلبه ومومی.

هغه وخت چه سړی غواړی خبری وکړی، لمړی باید لږ فکر وکړی، اولمړی دهغه څخه چه خبری ئې له خولی څخه وځی، وګوری چه داتکی دویلو وړدی اویانه؟ که دویلو وړنه ؤ بایدد هغه څخه ځان وساتی.

دلورو ویلو ته په ډېردقت غوږ ونیسی اوپه یو مطلب چه شروع کوی دهغه په شاؤ خوا کښې ترهغه وخته پوری اند یښنه او تفکر وکړی چه ستاسو په ذهن کښې مرکوز شی، که یووخت ډیو کار په انجامولو کښې بوخت او جرګی او مشوری ته اړشوی یو ښه دوست اوملګری پیدا کړی، چه دهغه سره دهغی موضوع په شاؤخوا کښې جرګه اومشوره وکړی، هغه جمله چه دکار لائل په پورتنیو کرښو کښې موو لیکله، یو حکیمانه نصیحت دی، چه باید پریوه صفحه کاغذ ئی ولیکی اودخپل خوب په خونه او یا دخپلی اداری په دیوال ئی ځوړند کړی.

... ساکت او خاموش خلك ځای په ځای ناست؛ اوهریو دخپل کارپه رشتو کښې په

پټه خوله په تفکر او مطالعی مشغول وی ، روزنامې اوجریدی دهغوی نوم نه اخلی دا اشخاص دنړی مالکه او دانسانیت گلونه دی !

هرمملکت چه ددې راز سړوفاقدوی یونامطلوبه وضع لری اوپه بدو او غلطولیارو دروهی یوملت چه متفکراوخاموش سړی نلری ، مخ په زوال او تباهی لحی ، هغه افراد هم چه دتفکر او سکوت دپاره وخت نلری دتباهی او گمراهی په لیارو کښې پښه زدی ، خبر لوخ او کړتو سړی په حقیقت کښې لکه بی رشد اوبی نموونه ده.

« کیوردانو محرونو » دفکردآزادی فهرمان چه دفکر آزادی په لیاره کښې شهید شو ، د « مزامیردا دود » دابیت تل وایه : « یولری ډ گرته تښتم ، اودهغه په سکوت کښې ژوند کوم » دا خدای پېژند ونکی سړی معتقد په تقوی ؤ چه دتفکر اویوازیتوب ژوند داسمان کړکی دانسان پرمخ خلاصوی ، که ددانته دایتا لیاد لوی شاعر آثار اومؤلفات مطالعه کړی وبه وینی چه سکوت اویوازیتوب ددې لوی شاعر په ژوندون کښې خونه فائده من و ، که دانته په عزت اواحترام په خپل وطن کښې پاته اوپه دولتی امورو کښې بوخت شوی وای ، او یائې خپل عمر په تفریح آورو خبرو تیر کړی وای ، نن به هیڅ یو اثر دهغه څخه باقی نه وپاته هر کله چه دده ناشکر وطندار انو دی دخپله ښاره څخه وشاره نو موړی د ضرورت او اجبار په حکم ، خپل ژوند په تنهائی اویو ازیتوب تیر کړ اوپه تفکر مشغول شواو د (کمدی الهی) غوندی جاوید اثر ئی په وجود راووړ ، ترهغه وخته پوری چه دا دنیا باقی وی همداسی به پاینده او باقی وی .

نوخبری لیږی کوی اوپه تفکر اواندپښنه خپل وخت تیروی ، اوسعی کوی ، چه کله کله یوازی اوخپل نفس سره خلوت وکړی ، اودخپلی دماغی قوی په پرورشو اودافکارو د تهذیب په بار ه کښې دیر کوښښ او جدیت کوی ، او د خوشیو او بیهوده خبر وڅخه ځان ساتی ، لکه چه پوها نو ویلی دی :

اول اندیشه وانگهی گفتار ور نوشته است پند بر دیوار

څه وکړو؟

مونږ ډېر کار ونه لرو او زمونږ وظایف ډېر سنګین دي؛ هر څه چه کوو هیڅ نه کیږي او هیڅ نشو کولی.

دا ولی؟

دا ځکه چه: کارپه سړیو کیږي اومونږ د کار سړي ډېر نلرو.

څوك چه لږ غوندې سم اوصحیح کار کولی شي خلق ئې نه خوښوي او ناکامه کوي یې.

هغه چه دخلقو خوښ دی هغه بیا یې دخلقو له مراعاتو نو نور هیڅ نه کوي او د خلقو دخوشحالۍ دپاره هرڅه کوي.

دڅنګه خلقو مراعات اوخوشحالی؟

دهغو خلقو چه پخپل خیر وشر هیڅ نه پوهیږي، ژرنده اوجمایت نه پیژني؛ لکه ګډي او پسونه په قصاب اوشپون پسې یورا زمندې وهي.

هغه خلق چه دوه ملکان ئې یودبل سیوري په ډانګو نو وهي.

ددوه خانانو خوسی ئې یوځای نه څري.

ددوه پیرانو مریدان ئې یوله بل سره دخدای دپاره دښمنی کوي.

دوه ملایان ئې یوبل ته ښه نه ګوري.

دوه تر بړونه په یوه لاره نه ځي.

اجتماعي شعوراو احساس په کښې نشته.

له حق اوحقیقت، انصاف او عدالت سره مینه نلري.

ښه نومونږ څه وکړو؟

مونږ باید په ۱۲ ملیونه نفوسو کښې ۳۵ تنه پیدا کړو چه ځانته نه بلکه خپل مملکت ته خدمت وکړي او علاوه پدې په کار هم پوه وي اود کار کولو په صحیح طریقه هم وپوهیږي زه دا نه وایم چه په دغومره نفوسو کښې دغومره خلق نه پیدا کیږي بلکه وایم چه انتخاب اوپېژندل ئې مشکل دی. اوس به هم زمونږ په مملکتي دوا یرو کښې ځینې دغه شان خلق وي مګر ډېرلږ به پکښې داورو مقامو او مهمور تبو خاوندان وي.

زه‌نه وایم چه‌دټول مملکت بار به‌دغه څوتنه یوسی یامونږ دومره محدود وظایف لروچه به محدودو اشخاصو سرته ور سېږی .

زه وایم: که‌دمملکت ټول اراکین اورئیسه اعضاء دخپل ځان له‌خدمته فارغ وی او شپه ورځ ورسره دمملکت دخدمت فکروی دنیا به گل و گلزار شی.

ځینی کسان وائی : په یوڅو گلانونه پسرلی کیږی، په یوه مملکت کښې څو تنه هیڅ نشی کولی. یوتن دوه تنه به کوم ځای ته ورسیږی : ترڅو ټول ښه نشی کارونه نه‌ښه کېږی .

پدی خبرو ساد گان ډېر ژر غولېږی بلکه پوه اشخاص ئی هم منی مگر هغه کسان چه انسان ته یوازې دجسمانیت له‌خوانه گوری اوتش ظاهری حواس او بدنی طاقت په نظر کښی نه‌نیسی بلکه دتدبیر؛ ادراك اوفکر قوت ته‌ئی گوری هغه پوهېږی چه یوه انسان دیوې سمې نقشې اوصحیح پروگرام په‌طرح کولو په‌دنیا کښې څومره لوی‌لوی کارونه کړی اوڅومره اشخاص ئی په ښه‌لاره دښه مقصدلورته روان کړیدی .

یوسړی دجسمانی فعالیت په‌لحاظ په‌مټی همدومره امتیاز پیدا کولی شی‌چه ددوه یادرې تنو کار و کړی یاله عادی کسانو نه‌یوپه دوه یوپه درې یوپه څلورسرعت‌وښئی یعنی هغومره مکتو بونه چه درې یا څلور تنه کاتبان ئی‌په یوه ورځ کښې لیکی، دی ئی یوازی ولیکی کوم ځای ته چه بل سړی په پښو په دوه یادری ورځو کښې رسېږی دی په یوه ورځ ورورسېږی‌مگر یوانسان دعلم اوعقل دپوهې او بصیرت په اثر کښې داسی کارونه کولی شی چه په‌زرها وتنو خلق هغه کار نشی کولی .

پدی حصه کښې امتیاز او کار کول ځانته یو معین حد نلری اوسړی ویلی شی چه دیوه سړی له لاسه ډیر کارونه کېږی اویوتن هرځای ته رسیدای شی .

په‌دغسی یوه گل باندې سل‌پسر لیه‌جوړ ېږی مگرخبره دلته‌ده چه‌په سلوپسر لیو کښې مونږ دغه شان څوگلو نه نشوپیدا کولی او نه ئی شو پیژند لای .

داسی نه‌وایم چه نشته یاپدې خاوره کښې استعداد محوه شویدی بلکه وایم چه باید ورپسی وگرزو او دوطن غرونه ، رغونه ، کلی او کورونه رپسی ولټوو .

مونږ نه‌یو خبرچه ز مونږ په غرونو کښې څه خزانې پټی‌دی، پدی سپېره اووچه بیدیا

کښې کوم ځای دحیات اوبه‌له خاور ولاندې‌غلی شویدی، پدی خوارو او زړو جامو کښې څه‌راز انسا نان پیدا کېږی په‌دغو انسا نانو کښې چه زمونږ نظرا وتوجه نه جلبوی څه فکرو نه‌اوڅه آرزو گانې موجودی دی.

که مو نږپدی پوه شو چه:

دیو سف څیرو جامو کښې څه گناده

ښه لباس کښې چه گناه کړی زلیخا ده

راځی څېرې کړو داښې جامې رنگینې

پکښې وگو رو څېرې ډیرې ننگینې

هله‌به‌داشخاصو حقیقت او ما هیت ته‌ور سېږو اوزمو نږ انتخاب په دلباس اوڅو خوږو خبروله مخی نه‌وی بلکه دمعنی اوحقیقی هویت له حیثه به‌وی.

مونږ بایدهر چاته په‌ځیر ځیر وگورو او په خلقو کښې ستر گی وغړوو.

ستر گی غړول یا کتل دانه‌دی لکه چه‌اوس هم ځینی دجاه وجلال خا وندان نو روته په حقارت گو ری.

ډیرخلق شته چه دچاله لاس لاندی ئی کلو نه تېر کړی مگر لیدلی ئی نه دی.

ډیر خلق وائی‌چه دکار سړی نشته‌ځکه کارونه خراب دی، داخبره له لویو نه نیولی تروړو پوری هریو کوی مگر سوال دادی چه چېر ته او په کوم ځای کښې؟

په‌یوه کلی، یو کو رنۍ، یوه ښار کښې؟ که په‌ټول مملکت کښې؟

که چېری د کلي کورخبره وی نو کله کله خوپه یوه کاله کښې دڅکلو او به‌هم نه وی مگر په‌بل ځای کښې سیند بهېږی اوپه ځینو کورو کښې ویالی روانې وی.

هغه کسان چه‌دمملکت درد پری‌دوا کېږی په‌یوه محدود محیط اومحدودو اشخاصو کښې په شلو کښې پنځلس نه پیدا کېږی.

که مونږ دغه راز کسان په‌ټول مملکت کښې په لکو نواو کر وړو نو کښې څو تنه پیدا کړو ویلی شوچه دخپل مملکت نوا درلاس ته را غله.

له مشر قی اتحاده څخه

د ناکو شکوفی



دشفتالو شکوفی

ادبیات

غزل

ساقی پاڅه ! را وړه ماله جام دملو
راسه و ناڅو په منځ کی د سرو گلو

پسرلی سو، هر سړی شور وشغف کا
موږ له نه ښائی چمو نه د نتلو

زمانه پرمخ روا نه گړندی ده
انتظار نکا ز موږ د پا څېدلو

یاران و لاړل په چمن کی ننداري کا
موږ یو پاته لا په څېر دیخ نیولو

زړه دی سوړ، حیات بې حونده، سینه یخه
روح آرزو کړی د کالبد د تشولو

ترتا و گرزمه زما د زړه آرامه !
مه پرېږده می په تور تم د ویر ژړلو

ستادی وی که به می هسی په غم وژنې
نشته توان په دې سره اور کی دسوځلو

په یوه پیاله دی مړ قوم بیدار که !
گوره ځی مخ د گړنگ په پر یوتلو

نه نظام دژوند معلوم نه ئې مره شته
نه خبر یم چه څه سر دژوند او مړلو؟

بې نظامه قوم پروت دی شا وخوا کی
انتظار کا د مسیح د پو کولو

زغ که پورته په فضا کی چه ټول «ویښ شی»
تېر شو وخت د نا بینا د لمسولو

دژوندون خزان به ټوله بیا بهار سی
که ساقی و کړی همت دمی وېشلو

کوټه، ۸ دحوت ۱۳۲۶
عبدالحی حبیبی

دوروز گلوی ږغ

ښاغلی سید عبدالله خان (سعیدی)

دانسان اصلی جوهر دی — اول عقل دوهم توره
دا همه وه ستا په برخه — پښتنی قوم بها دوره
د غیرت په شومه موډ وي — له اصلی فطری جا غوره

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

درته کاندم څو وینا وی — ستا دنن او پرون حال دی
لغاز ننه در رسومه — دو ستانه یو قیل وقال دی
ددرد چاره در ښیمه — په ظاهر که څه جنجال دی

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

اول پوه شه د زړه سره ! — چه ته څوك اودچا زوی ئې
ستا له اصله ریښې ټینگی — په عظمت تر هرچا لوئې
تاریخ ستا په وصف ډك دی — د عالم د مدحی کوی ئې

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

ته اولاد د احمد شاه ئې — چه د برم پر آسمان لمرؤ
دملی وحدت روزونکی — جهالت شپې ته قمرؤ
اسلامی الفت په اور کی — ؤ کباب ، دین ئې دلبرؤ

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

د غیرت په آب آ بداره — دی تل توره ځلیدله
شرق اوغرب به ئی په سترگو — د هیبت ځلا لیدله
په باغو کښې به بلبلو — د پښتو مدحه کوله

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

ستا تبر په اتفاق کښې — یو دبل ملا ته ملا بندؤ
د ځانو په قربانی کی — ئې لیدلی باقی ژوندؤ
په تدبیر کی دملت به — ئې هر فرد له فرده رندؤ

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دي عصر ځلمیه

جهالت پرده وه پورته او د علم د پوه بله
پښتانه ئې پتنګان وه هر ساعت پر کړ بدله
پر ملی وحدت مین وه یو له بله جار بدله

ستر کی خلاصی که لالیه
آ د دې عصر لحلمیه

دهرچا له اړی خلاص وه له پردونه مستغنی وه
له بل چائی تو کر نه غوښت خپل په زینږ کر باس راضی وه
پروا نه رنګه په او رکښې ومطلوب ته سپلنی وه

ستر کی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر لحلمیه

توره ډال د دوی کښه وه په هیبت کی شنه زمریان وه
هریو ؤ صادق وطن ته تول دمینی فدا یان وه
ننګ ناموس ئې ؤ روزلی په عفت کښې نمایان وه

ستر کی خلاصی که لا لیه
آ ددې عصر لحلمیه

نه تار نګ دنیا پرسته نه ئې ستار نګه غفلت ؤ
کار پیشه ئی وه ر بړو نه په زحمت کی ئی راحت ؤ
نه ئی هسی خو شحا لی وه ستاسرور دوی ته آفت ؤ

ستر کی خلاصه که لالیه
آ ددې عصر لحلمیه

د دوی ښه ښه صفتو نه په نقلو نو کښې یادیږی
ددې ښه سیرت له رو یه په عالم کښې نن ستائیږی
پاک لمنی او سپېڅلی له هیچا څه نه بیر یږی

ستر کی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر لحلمیه

پر قبرونو ئی هر وخت کښې دباری رحمت را اوری
په سینو کښې ئې تر او سه اسلا می محبت ښوری
په غمنا کو ستر کو اوس دوی زما اوستاو لورته کوری

ستر کی خلاصی که لا لیه
آ د دې عصر لحلمیه

هریو فرد ئی له افرا د و و زخمی د رد ته ملهم ؤ
دیو ز لو بر حا لت به یو تر بله تول ارحم ؤ
نه چه دار نګ پر مظلو مو همیشه خو ښ په ستم ؤ

ستر کی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر لحلمیه

داوه زموږ با ننګه پلرونه — چه د ننګ پاس ورسره دی
سور بیرغ ئی له مزا ره — ز موږ ولور ته نښانه دی
ما او تاڅه وکړه ور وره — چه مو دا عمل پېشه دی

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

دهغو مېړو په څېر به — خپل ځانونه خلاص له غم کړو
هم حاصله به ملت ته — خوشحالی دځان په دم کړو
پر کونډیانو یتیمانو — په هغومره زیات کرم کړو

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

تاچه غوښی له خپل وروره — درشوت په توګه پرې کړې
یو آسانه غلا دی جوړه — مسمی قلمانی کړې
دحاجت په وخت کی هم تا — پرغریب ستر ګی راسرې کړې

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

آزړ ګیه ! زه اوته هم — د هغو پلرو ز امن یو
دڅښتن په مرحمت موږ — له هر لور څخه ایمن یو
بل څه نشته یو غفلت دی — په دغه مرض لېچن یو

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

ستا پېشه لاسګوانی ده — لادی چرس دځان عمل کړه
درفعت مصدر دی پر ښود — محضی غوره دی مهمل کړه
لا کړې نورې کر غېړنې — پر ځان تااورونه بل کړه

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

تر دې حده رسید لی — وروره ستا بی کمالی ده
چه د بل دلاس صنعت دی — هم برستنه هم نالی ده
د کفن سان دی دبل دی — آه ! داڅومره نادانی ده

ستر ګی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

که دغه زمو ږ اعمال وی — خدای خبر چه بری مومو
راسه دوا ړه به په گډه — له دې جهله څخه در ومو
په خپل لاس مو ځان بند کړی — دهمدی ذلت په لو مو

سترگی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

دا به ښه وی چه موږ دواړه — یو دبل په غم غمگین شو
اسلامی وړونو په منځ که — یو دبل دزړه تسکین شو
هسی نه چه علیم رنگه — ور ته پټ لکه شاهین شو

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دې عصر ځلمیه

دا زمان د غفلت نه دی — شوه د جهل دوره تېره
ده د علم رڼا تېټه — پرعالم باندی چاپېره
هر کاروان مخ پرخپل یون دی — بې علمی سوه بالکل زېره

سترگی خلاصی که لالیه
آ ددې عصر ځلمیه

په هر آن و ما اوتا ته — جرس گډ په ترانو دی
وائی پورته شه پر څه دی — زړگی بند په اندېښنو دی
ها دلوړ امید ساغر دی — ولی ډك نن له ایرو دی

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دې عصر ځلمیه

چه او لاد دپښتا نه یو — نو د دوی پر گام به گام ږدو
دا وضعیت مناسب نه دی — چه وخپل ور ور لره دام ږدو
دښمن هېر ددوست ومرگ ته — په پیمان پر هرمقام ږ دو

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دې عصر ځلمیه

«سعیدی» وائی ای وروره — دا ټا ټوبی د پښتون دی
دغیرت له هوا ډك ئې — همگی غرا و هامون دی
زما اوستا ولاس ته گوری — په لټی مو تل ز بون دی

سترگی خلاصی که لالیه
آ د دې عصر ځلمیه

(له طلوع څخه)

پښتون اوسه تل

ښاغلی لعل گل (فریاد احمد زائی)

د ستا په غم کښې ای پښتو نه ! مبتلا یمه زه
ستر گی می سری له وینو دکی په ژړا یمه زه
هر ه گړی چه ستا په بېرته پا تې حال ته گورم
لکه مجنو ن شم د یو ا نه سر په صحرا یمه زه
جگ شه او چت شه ! ملاد تنیکه د غیر ت وتړه
دنیا د نه پرېږدی ، مه وا یه ، بې پروایمه زه !!
علم او کمال جامه په ځان کړه او پښتو ن اوسه تل
لېر شه د فیق شه ! غا فل نشی چه وا وا یمه زه
که «ویښ پښتون» جوړ کړی راپا ځوی له خوبه ویده
«فر یاد» به سر شی په نغمو چه همد ا و ا یمه ز ه

❀ ❀ ❀

پښتونه !

د پل خمری عبدالصمد «پتنگ»

بس دی غفلت له خوبه پاسه وسه ویش پشتونه
د و طن مینه غو ر ه زانته که همیش پشتونه
ستر گی که خلاصه شاو خوا ته نظر واچوه ژر
تر نورو وروسته پاته ئی خه سوه درپیش پشتونه
دابدال ود «شیرشاه» په کار ناموشه «خوشحال»
دتا ریخ پا نهی ته دفیق شه کم وبیش پشتونه
هغه کسان چه پرون ستاتر بیرغ ژوند تیرا وه
نن دهغوخلسگو په منځ کی ته شوی وبش پشتونه
ولی د نور و په مقصد وا ر ا ده ئی ر و ا ن
و نرز مری ته نه شائی رفتارد میش پشتونه
دپل مفاد دپاره وژنی زان په هرډ گر کی
په تش نامه ده مجا هد ته ئی ورپیش پشتونه
د زا ن غم نه خوری همیشه ئی دپل چاپه سودا
نو رو غنی شو ستاپه توره ته درویش پشتونه
بس دی نفاق اتفاق تینگ که زان زانی ور کوه
چه و مختك ته د کا م وې دلرم نیش پشتونه
ملت دی خوارحال دی ز بون مخ په فنائی روان
د استاپه دی حالت دی زای ده پرویش ویش پشتونه
«پتنگ» د مینی به اور سوزی او ناری وئی تل
د «پشتنوالی» پر لار کلگ شه پخپل کیش پشتونه

ځما دمحبت شپې ورځې

محمد وارث «سیلانی»

که دځوانی شپې ورځې په مینه کښې دې زه ئې هم خوشې دلاسه نه ورکوم او ورپسې هڅه کوم چه دسپین زیر توب زمان ته ئې خوږ ثمر اوتجربوی نتیجه یوسم دا دمستی موجونه چه زه په کښې لاهویم نه پوهیږم چه کوم ساحل ته به وزم ځما د ځلمیتوب روښا نه لمر ته چه په یوه منډه ددې غرونه ځان اړول غواړی مانیستی ته پریږدی ولی می دزړښت خواشینی ته سپاری لږ صبرو کړه چه ددې درانده خوب نه ویښ شم اوستر گی وغړوم امازه په دې دار کښې یم چه که ویښ شم ځما دځوانی ځلیدونکی لمر به دزړښت په تورتم کښې چه هلته به امساپلاس پسې گرځم پټ شوی وی هو ته دکو چنیتوب په لوبو آموخته ئې ځکه داسې تیزی منډې وهی ـ آه که ته داسې منډې وهی نوزما د خواږه حیات لمن به داور په لمبو وسیږی اوددې ځای نه به بې خبره دسپین زیر توب ویجاړی خون ته ورسیږم لږ صبرو کړه چه دلته یوځو دمحبت شپې ورځې تیرې کړم او دځان سره یو پوخ سر گذشت او خوږې قیصې یوسم دا ځما دمینې او محبت مقام او دکتور روزگار وخت دې ته مخ را واړه او دالویه اجتماعی وگوره دا وفاداری او صداقت منزل گاه ده دادملت شناسی اووطن دوستی وخت دې ای ځما دځلمیتوب پسرلیه پام کوه چه شنډ او دخلکو دپیغور نشی په پښتنی مینه دپښتو نوالی په لمن کښې دخپلې ځوانی ذکات پریږده چه ځما دمحبت شپې ورځې هیرې نشی (پای)

مشاهیر :

د حیدرآباد د امجد شاعری

د ښاغلی « سیفی » ترجمه :

(۱) داردو ژبی په شاعرانو کښې ډېر دار از شاعران دی چه هغو یوائځی دشاعری په میدان کښې دخپل فکر نیلی ځغلولی دی ؛ او دنشر په لیکلو کښې ئی کومه یوه کار نامه نده لېدل شوې . د غالب شخصیت له دې کبله داردو ژبی دادب په نړۍ کښې ممتاز او ښکاره دی چه یوائځی دده شعر نه بلکه دده نثر اونور خطوط او مکتوبونه اویا په بل عبارت دده نثر هم دارد و ادب یوه قیمتی پانګه ده . قطع نظر له تیرو وختو څخه دموجوده وخت ځنی لیکوال هم دشاعری او نثر لیکلو په لحاظ پ ره امتیاز لری لکه مولانا شبلی - حالی - آزاد - اوظفر علی خان او نور اوله دې راز شخصیونو څخه حضرت امجد هم دی، او لکه څرنګه چه دی د شاعری په اقلیم کښې یومخصوص مقام لری په نثر لیکلو کښې هم دده دقلم څخه ملغلری دوړیږی او دا یودا راز ملغلری دی چه د دی ملغلر وبر یښ او آ ب اوتا ب به په اردو ژبه کښې تر ډېرو مودو باقی وی، په دی لاندی کرښو کښې مونږ دده په شاعری او نثر نګاری لنډه غوندی تبصره کړو ؛ اوپه دی مقام کښې باید مونږ داخبره هم دنظر لاندی ونیسو چه مونږ د کوم یوشاعر او نثر لیکونی په ذهنی افکارو او دماغی محصولاتو کومه تبصره او یا څېړنه کوونو باید مونږ په دغه وخت کښې دهغه په ژوندون اوتعلیم او روزنه او نور ماحول هم نظر وغور ځوو او دا خبره ځانته ښکاره اومعلومه کړو چه دده دغه شعر اوشاعری اویا دغی دلیکوالی ذوق اوقریحی په کوم ماحول کښې وده وکړو اوپه کومه فضا کښې ئی ترقی کړیده او ددې کار عوامل څه وو .

(۲) حضرت امجد دڅوارلسمی پېړۍ په لمړیو کلو یعنی په سنه ۱۳۰۳ یاسنه ۱۳۰٤ هجری کښې په حیدر آباد کښې پیدا شویدی او دده پلار یو صوفی مشرب سړی و، چه دحضرت امجد دپیدا کیدلو څخه څلویښت ورځی وروسته وفات شو - ده پرته له خپلی مور نور څوك خپل خپلوان نه لرل اوهم دې دده د ساتنی او روزنی کفالت کاوه دې خوارې دآمدنی او ګټی هیڅ ذرایع نه در لودل اوله دې کبله ئی ژوندون په ډېر عسرت تیراوه لیکن سره ددی هم دغی کونډی اوبی وزلی مور دخپل زوی په پالنه اوروزنه کښې دهیڅ یوقسم مشکل پروانه کوله او ددی مقصد په لاس راوستو کښې به ئې هیڅ قسم مشکل ته اهمیت نه ورکاوه او هم دغه ددې بی وزلی ټینګ عزم او صحیح روزنه وه چه ښه نتیجه ئی ورکړه اودده پوه او قابل ځوی دخپل علم او ادب او نظم اونثر په ذریعه دخپل ملك اوملت دپاره دا راز خدمتونه وکړه چه هغه تل ژوندی او نن دهرچا په سترګو اوزړونو کښې جګ مقام لری اوخلك ورته دقدر په سترګه ګوری .

له نن څخه تقریباً پنځوس کاله وړاندی په کلکته او بمبئی او مدراس کښې دارالعلومونه او یونیورسټی له ډېرو کلو څخه تاسیس شوی اونارېنه خو لاڅه چه ډېرو ښځو له دغو یو نیور سټو څخه شهادت نامی اخستلی او دکار او عمل میدان ته راوتلی دی ، مګر په دغه وخت کښې په حیدر آباد یو جمود او خمود طاری و او مغربی علومو سره چا هیڅ مینه نه لرله او په دارالعلوم او نظامیه نومی مدرسو کښې

«امجد» د حیدر آباد پیاوړی شاعر

به دمشرقی علومو درسونه ورکول کېدل ، اوپه نظامیه نومی مدرسه کښې دبی وزلو او مسافرو طالبانو دپاره یودار الاقامته هم وه چه ددغی مدرسی طالبانو به یکښې استوګه درلوده او خپل تحصیلات به ئی کول اوهم له دی کبله دغه ځای دشوقیانو او زیار کښونکو طالبانو مرکزو ، او برخیره یردی پخوانو پوهانو او علماو به دعلم شوقیانوته په خپلو شخصی ځایو کښې هم دشرقی علومو درسونه ورکول او ددوی ځایونه دعلم او پوهی دنګرو دپاره خوږی چینی وی - په دغه وخت کښې په دغی ښار کښې دشاعری بازار هم تودو دیوی خوا دفیضی شاګردان دخپل استاذ دمیراث په ویښ او خپرولو بوخت و اودبلی خواد (داغ) محفل هم تودو ، او - سرشار - او ترکی - او ګرامی - او ظهیر او دغه راز نور اشخاص د شمال هند څخه راغلی دحیدر آباد په فضا کښې ئی دشعر او شاعری هنګامه پورته کړې وه .

که څه هم په دغه وخت کښې دخلکو په ژوندون کښې د مغربی معاشرت طرز تریوې اندازې لنډ ډېر ځای نیولی و مګر سره ددې هم په دغی وخت کښې مشرقیت تعمیم اوغلبه درلوده اوپه عمومی ډول سره په متوسط او اعلی طبقو کښې مشرقی طرز ته رجحان ډېر لېدل کېده اوپه عمومی ډول سره په ناستو ولاړه او خوراك او څکاك او اغوستن اونورو شیانو کښې مشرقی طرز ښکاره او غالب لېدل کېده اودا هغه ماحول او فضا ده چه حضرت امجد پکښې دخپل ژوندانه یوه لویه برخه تیره کړېده .

حضرت امجد د ابتدائی مذهبی تعلیم نه وروسته په نظامیه مدرسه کښې داخل شو او په دغه مدرسه کښې ئې په تحصیل بیل وکړ اوپه دی لړ کښې ئی ددې خبری شوق اومینه هم پیداشوه چه دپنجاب د یو نیورستی په مشرقی امتحان کښې هم شامل شی او په خصوصی ډول ئې د فارسی ژبی زدکړی ته توجه وکړه او د خپل دی مرام اومقصد د تکمیل او ترسره کولو د پاره به ددغی وخت پیاوړی ادیب آغاسید علی شوشری چه ستاد الملك خطاب ئې درلود او ځوارلس میله ددغی ښار څخه بېرته ئې ځای نیولی و ، ته ، اوهره ورځ به ئې له هغه څخه استفاده کوله او د مطالعی ډېر شوق ئې درلود او د فارسی ژبی په امتحانو کښې بریالی او د منشی فاضل شهادت نامی ئې واخستلی ده د کوچنی والی څخه شعراوشاعری سره علاقه او مینه لرل اولمړی لمړی دته د (راسخ) دیوان لاس ته ورغلی و ، اوتل به ئې دغه دیوان کوت او په دغه وخت کښې چه ده لمړی شعرویلی دی هغه دادی :

نهی غم گرچه دشمن هوگیاهی آسمان اپنا مگر یارب نه هونا مهربان وه مهربان اپنا

دی د ځلمی توب په وخت کښې د حیدرآباد څخه بنګلورته ولاړ اوپه دغه ځای کښې به ئې د عیسائی مشنری په مباحثو کښې برخه اخستله او په شخصی ډول سره به ئې د فارسی ژبی درس هم ورکاوه او څه موده وروسته پدغی ځای کښې د یو دارالمعلمین معلم مقررشو مګر د یو خومیاشتو د تېریدلو نه وروسته د وطن مینی دی بېرته حیدرآبادته راښکود او بېرته حیدرآبادته راغی او د حیدر آباد په دارالعلوم کښې د یومدرس په حیث مقررشو، پدې وخت کښې دغی پخپل زوی مینی مورد خپل زوی د پاره د واده ترتیبات ونیول او ددې کار په اثر دده د مسئولیت بار نورهم دروند شو او دا فکر ورته پیدا شو چه پدې لنډ معاش به زمونږ گزران څه رنګه وشی .

څه موده وروسته په (موسی) نومی رود کښې سخت سیلاب راغی او دغه سیلاب د حضرت امجد مور اوښځه اولوز دریواړه یوډل اوپدغی سیلاب کښې دریواړه لاهوشو اوحضرت امجد چه دی هم سیلاب په مخه کړی و د ډېرو غوټو او تکالیفو څخه بېرته ژوندی ووت دی افسوس ناکی حادثی حضرت امجد دی خبری ته اړ او مجبور کړ چه خوکاله دی تجرد ژوندون ته غاړه کښېږدی .

او دی د شاه خاموش صاحب د سجادهٔ نشین حضرت سیدهاشم حسینی په ځای او کور کښې دیره شواو

دبه ددغی سجاده نشین سید صابر حسینی نه تعلیم کاوه اوهم پدغه وخت کښې ئې ددغی وخت د فلسفی داستاد څخه چه مولانا درالدین نوم ئې درلود او د علامهٔ عبدالحق خیرآبادی دارشد وشاگردانو څخه و، دفلسفی او کلام او نورو علومو درس شروع کړ.

دغه استادته چه ددې پوه شاگرد لیاقت معلوم شو نو ده داخبره غوره او مناسب وگڼله چه خپله مشره لورچه په عربی علومو اوفارسی اوتصوف اوخطاطی کښې ئې لوی لاس اوپوره مهارت او جمال النساء نوم ئې درلود دته په نکاح کړی اوله کومه وخته چه حضرت امجد د دوی په کور کښې اقامت غوره کړی ودغی پیغلی به هم کله کله شعراو رباعی ویلی.

ددې واده نه وروسته د حضرت امجد د ژوند دریم دوره شروع کیږی او د تصوف په مناسبت دده په ژوند کښې زهد او ریاضت غلبه وکړه او د طریقت اوسلوك په لیار کښې ئې پښه کښېښودله او خوکاله وروسته دی دخپلی کډی سره حج ته ولاړ او هر کله چه د حج د زیارت نه بیرته خپل ځای ته راغلل نو دوه میاشتی وروسته دده دغه کډه هم مړه شوه چه دی ددغی گرانی او د علم او فضل میرمنی په مرگ ډیرمتأثرشو، ده ډیر کلونه د دارالعلوم معلمی ته ادامه ورکړه او ډیره موده وروسته د محاسبی لوی دفترته تبدیل شو او د خپل عمر په (٥٥) کال ئې ترقی وکړه اوددغی دفتردلوی آمر په معاونی مقررشو.

ددې تفصیلاتونه وروسته اوس مونږ غواړو چه د ده په شاعری بحث وکړو دده شاعری په څلورو دورو ویشل کیږی او دده د شاعری لمړی دوره هغه ده چه د شاعری دابتدا څخه نیولی د (رود موسی) په سیلاب تمامیږی چه ددې شاعر ددغی دوری کلام ئې تقریباً مفقود دی که څه پدغه وخت کښې دده د سلور باعیاتو یوه مجموعه نشرشوی وه اولویولویو پیاوړو شاعرانو په ډیر جگ تقریظونه کړی وواودده د شاعری دوهمه دوره د رود موسی د سیلاب نه د جمال النساء سره د نکاح پوری خلاصیږی، دده د دې دوری شعر ډیر موزون او په حمد او نعت مشتمل دی او په شعر کښې ئې د تصوف رنگ ډیرلیدل کیږی او دده دشاعری دریمه دوره د جمال النساء د واده نه شروع شوی او ددې په مرگ پای ته رسیږی پدی دوره کښې دده کلام ټول دتصوف پەرنگ رنگ شویدی او دده ددې دوری ټول نظمونه اورباعیات له تصوف څخه ډگ دی او پدی دوره کښې ئې د حجازپه سفر کښې څنی غزلی هم ویلی دی، دپنه وروسته دده د شعر اوشاعری څلورم دور شروع کیږی چه پدی دوره کښې دده په شعر کښې دتصوف رنگ ډیر پوخ شویدی او پدی دوره کښې هم ده څنی غزلی ویلی دی او دده د نظم اونثر د تصنیفاتو فهرست دادی.

اول - او - دوهم : ریاضی امجد لمړی ټوك اودوهم ټوك :

دریم - او - څلورم : رباعیات حصهٔ اول - اوحصهٔ دوهم :

پنځم - خرقه امجد :

شپږم - نذرامجد .

داهغه کتابونه دی چه پەنظم لیکل شوی دی، او کوم چه‌په نظم اونثر ددواړو گډ لیکل شوی دی هغه دادی :

(١) جمال امجد = ٢ = حج امجد = ٣ = گلستان امجد -٤- حکایات امجد - ٥ = میال بی‌بی کی کهانی = یعنی د ښځی او خاوند کیسه .

که دامجد کلام ته‌څوك پەدقت سره وگوری نوهغه ته به دا خبره ښکاره او معلومه شی چه د امجد دهرې دورې په کلام او افکارو کښې دری خبری پەمخصوص ډول سره‌شته دی. سادگی - نازك خیالی تأثر. او دیو ښه‌نظم او خوږ لیك دپاره هم‌دغه دری خبری ضروری دی که دامجد افکار دسادگی

لحاظ و کتل شی نو داخبره به ښکاره او معلومه شی چه دامجد کلام ډېر صاف او عام فهم دی او د فطرت د قوانینو څخه نه دی وتلی او د صفایی او سادګی په لحاظ دده اشعار داسی نه معلومېږی لکه چه نظم وی بلکه د نثر غوندی صاف او روان معلومېږی ، د نازك خیالی په لحاظ دامجد کلام یو مخصوص خاصیت لری دی دا ذوق لری چه په لطیفو تمثیلونو او ناز کو تشبیهاتو خپل شعر ډېر خوږ او جذاب کړی لیکن دده په تشبیهاتو کښې کمال دادی چه مبالغه ورسره نه وی ګډه شوی، دده د کلام په سادګی کښې دده نازك خیالی داسی ایسی لکه چه په ګوته کښې قیمتی غمی ښکارېږی لیکن دده دغه غمی داسی بریښېدونکی نه دی چه سترګی ورته و بریښی او د تکلیف موجب شی بلکه داداسی ښکلی غمی دی چه په نندارونی دلېدونکی زړه خوشحالېږی او دماغ ورباندی تازه کېږی او په ستر ګونه بلکه په زړه او دماغ اثر کوی .

دامجد کلام د تاثر مختلف حیثیتونه لری دی اکثر په غم او درد کښې ډوب او په خپل کلام کښې سوز او ګداز تصویره وی په کوم ځای کښې کله کله دده شعر او کلام د نصیحت ایندار او کله کله پکښې د تصوف جالسی هم لېدل کېږی - او لکه چه وړاندی مو داخبره ښکاره کړی ده چه دامجد کلام په څلورو دورو ویشل شویدی دېنه دروسته دده کلام په نظم - تضمین - غزل - رباعیاتو - او قطعاتو - هم ویشل کېږی . ده په مختلفو موضوعاتو کښې لکه واقعه نګاری وصف نګاری - اخلاقی صوفیانه نظمونه شو، وینا کړیده دده د واقعه نګاری په نظمونو کښې قیامت صغراد موسی نومی رود د سیلاب واقعه او بیان او قتیل جفا د بنګالی د بوی مظلومی میرمنی په اور باندی د څوځېدلو واقعه او د یو بیوزلی خوب چه ده په خپل یو خوب یو مفصل نظم لیکلی دی د ذکر او ستاینی وړ دی ده په دی نظمونو کښې د خپلی واقعه نګاری ذوق او اقتدار په ښه شان سره ښکاره کړی دی دامجد قلم په وصف نګاری کښې هم د واقعه نګاری څخه کم نه دی او په دی موضوع کښې دده (میری قمری - اومان او ربچی) (او یتیم کی دعا) او دغه راز نور کتابونه ښه او د قدر وړ نظمونه او ښی نمونی دی - ده اخلاقی نظمونه هم ډېر ویلی دی او ده په دغو نظمونو کښې ډېر ښه اخلاقی تعلیم ور کړی دی لکه چه وړاندی موویلی دی دامجد په شاعری کښې د تصوف بر خه ډېره ده ، ده په خپلو ډېر اشعارو کښې د تصوف متعلق او ګران مسائل حل کړی دی او د (خرقهٔ امجد) دیرش نظمونه د تصوف په مسایلو مشتمل دی .

لنډه دا چه امجد یو اسلامی شاعر دی او دی د خپل کلام پذریعه د خلکو غوږ ته د ښو چارو پیغام رسوی او په خپل نظم کښې د قرآن کریم د آیاتونو تفسیر کوی او دده اکثر رباعیات او نظمونه د قرآن کریم د کوم یو آیت به تفسیر مشتمل وی او ده په خپل کلام کښې داخبره ښکاره او ثابته کړیده چه که څوك داخیال او فکر لری چه زه دی د مسعود او هوسا ژوندون خاوندشم نو هغه دی د قرآن کریم د فرامینو سره سم خپل ژوندون وکړی دده د کلام لنډ مطلب دادی چه باید انسان د خپل نیم ګړی ژوندون دا څو ورځی په ښو چارو تیری کړی .

کیسې او نکلونه

د پښتنو منظوم روایات او نکلونه

لیکونکی عبداللطیف جلالی
دارالمعلمین د ۱۲ صنف متعلم

لکه څه موږ ته څرګنده ده، پښتانه وګړی په خپل مینځ کښې داډول عنعنات او نکلونه لری چه تر اوسه پوری په کاغذ باندی ندی لیکل شوی - سربیره - پردی ددی روایاتو طرز تخیل بالکل دملی روح هینداره او ادبی کیفیتونه ئی هم داشانی سوچه دی چه داتو ته پځان سره د پښتو دملی ادب یوه خوښه برخه ګڼله کیږی .

د پښتنو ملی شاعرانو کله کله له خپله ټبره وتلی نکلونه هم نظم کړی ، مګر که څه هم قصی دبل چادی اما پښتنو شاعرانو هغه ترخپل دوداو بایده لاندی راوستلی اوداسی څرګندیږی لکه چه ددوی خپل روایات وی چه له هغه جملی څخه دلته یو منظوم نکل دادب او طرز تخیل له پلوه ترڅیړنه لاندی نسو : البته ښاغلی لوستونکی به په دی باندی ښه او بهتر پوهیږی چه په یوه افسانه یا رومان او نکل کښی دا هرومرو لازمه نه وی چه هغه نکل دی نو د تاریخ له پلوه پوره په سل کښ سل رښتیا وی . بلکه دیو رومان افسانوی جنبی او دلیکوال یا شاعر ادبی مهارت په دوی کښ دسپڼنی و ډبلل کیږی نو دالاندنی روایت که څه هم دسیرو له رویه پوره مستند هم نه دی ، زموږ ددی روایت او نکل ادبی قیمت مطلب دی ، چه دیوه نامعروف پښتانه شاعر له خوا په آزاد نظم سره جوړ شوی نه تاریخی صحت او ثقه والی . - رومان دادی : -

دشام نکل

دشام نکل دیوی ملی ډرامی په څیر په پښتنو وګړو کی ویله کیږی ، تاریخی کیفیت ددی درامی دومره مستند نه بلل کیږی او ما په کم تاریخ کښ دا افسانه په دی توګه نه ده لوستی مګر پښتانه وګړی دا قصه په دی شان بولی :

دسعادت په زمانه کښ یعنی هغه وخت چه زموږ پاک سپیڅلی پیغامبر حیات و، په منوره مدینه کی یوه ورځ یو سپین ږیری سړی د پاک حضرت ومجلس ته حاضر شو ، نو حضرت له دی سپین ږیری پوښتنه وکړه ' او دده دځای او د وطن په باره کښ ئی تفصیل وغوښت - سپین ږیری په ځواب کی عرض وکی : زه په څټه یو عرب یم - هوادمی شام او دحج په نسبت دلی راغلی یم د کعبی زیارت یعنی حج می ادا کی او اوس ستا زیارت ته راغلی یم ، دادی زیارت می وکی ، او اوس د کور په خوا وشام ته رهی یم .

پس له دی بیانه دسپین ږیری څخه نبی مبارک (ص) دشام په باره کی نوره پوښتنه وکړه ، سپین ږیری په ځواب دشام جغرافیائی کوایف لکه او به هوا ، آبادی ، دشام دخلقو ژوندون ، اقتصادی معاملات او آرامی

وحضرت ته یه‌ښه‌تو گه وویل ، تردی حده‌پوری چه‌دحضرت عزم پردی سوچه شام ته‌ولاړسی او شام پخپله وگوری - نو نبی (ص) سره له‌خلورو لویو یارانو له‌دی سپین‌زیری سره وشام ته‌رهی شو-هغه‌و، حضرت (ص) پس‌له خو ورځو سفر څخه وشام ته ورنژدی سو ، او دشام ښار ورښکاره سو ، هلته دلما ځه وخت راغی ، حضرت (ص)هوری دما پښین‌لمو نځ‌ادا کی وروسته تردی حضرت (ص) دوحی په‌اثر دشام‌له داخلید ومنع سو ، اوبیر ته گرزید وته اړشوله دی ځایه‌ئی دشام و شار ته و کتل اودهغه شار عمرانی کیفیت ئی‌تر دقت لاندی راوست ، دشام دښار په‌مینځ کښی‌دحضرت(ص) نظر په یوه‌لویه گنبه والکیده اوددی گنبتی حال‌ئی‌له سپین‌زیری څخه - تفصیل وغوښت ، سپین زیری و حضرت (ص) ته ددې گومبتی په باره کښی داشان بیان وکی :

وویل ای‌باداره ! زه ددی گومبتی په‌حل خبر نه‌یم مگر دپلار دخولی نه ماداسی‌اورویدلی چه‌یه پخوانو زمانو کښی په‌شام کی یوپاچا وه چه‌یوه لورئی درلوده ،دانجلی په‌ښا یست او کمال کی بل‌ساری نه درلود اوپه پا چا هم خورا گرانه وه دی یوه ورځ دخپل پلاره څخه خواهش و کړچه یوښه باغ ددی دپاره ودان کی ، پاچا دخپلی لور داآرزو ومنله اوداسی باغ ئی ددی دپاره جوړ کی چه‌په دنیاجنت اوپه درست شام کی‌ئی ساری نه‌درلود.

نوهغه-مهال چه‌دا باغ تکمیل اوپه‌ثمر ورسیدی ، هر څوك به دباغ وسیل‌ته راتله او ننداری به‌ئی کو لی یوه ورځ دشام ښایسته ځوانان ، زنیکی سره‌ټول سوه ، اودپاچا دلور وباغ ته ورننواته ، ددوی په ډله کښی یو هلك ؤچه‌نوی په‌ځوانی راغلی اوخورا ښایسته زلمی‌و — نوځوانان په باغ کی هر لو ری وگرزیده ، سیلو نه‌ئی وکول، دخدای له‌تقدیره هغه‌ښایسته ځوان چه د یوی کوندی زوی‌ؤ په‌یوه خیابان کښی‌خوب یووړ اوبیده سو ، دا هلك دنورو همزولو هیر سو اودا نورد باغ ولاړو په‌دی مهال کی د پاچا لور سره دخپلو نجونوسیلو یووباغ ته‌راغله‌اوددوی په‌مشغولا دځوان هم ناببره‌له‌خواره خوبه راغورزیده ، اودپاچاپه لورئی ستر گی والگیدی نجلی‌هم‌داهلك ښه‌ولیده،دوی‌دواړه یودبل په‌مینه‌اودتاوده‌په‌عشق په‌غیشی ولگیدل،اوبی دکمی مفاهمی یاخبر وهریو خپلی خواته ولاړ ، او هلك په بیړه له باغ را ووت ، دواړه یو دبل په مینه غرق او زخمی زړونه‌جلا شو ، خوشپی ورځی تیری‌شوی‌دپاچا لورپه‌خپل‌شاهی‌انگړ کی‌اود کوندی‌زوی په خپل کور کی دعشق په‌لمبو سوی اوتوان آرام ځینی ورکشو دی دواړو به‌مدام - زړل اوچانه ئی دژړا علت‌نه معلو میدی په‌پای کښی د کوندی زوی بی‌طاقته سو، له کوره‌راووت اودپاچادلورو دانی ته‌ورغی، هغی‌چه دپاچادلورپه‌امر درست ښار په‌ده پسی غوښتی ؤ،- اودی‌ئی نه‌ؤ پیدا کړی په مطلب پوه شوه او له ده څخه ئی پوښتنه وکړه ای‌ځوانه ولی داسی پریشانه گرزی او دارنگ‌دولی‌تك ژیړ دی ؟ ده‌وژړل اودهغه باغ دورځی خپل حکایت ئی ودی ته خرگند کی . دایی خورا خو شاله سوه، اوده ته‌ئی دادور کی چه‌هغه نجلی چه ته پرمین سوی‌ئی دپاچالور اوپرتا ترتازیاته مینه‌ده ، زه‌به تاسی سره وصل کوم نور غم مکوه . هلك له دایی څخه تشکر وکی اوددی کره کښیناست ، دایی په منده دپاچا ولورته ورغله او په دی ئی زیری وکی چه هغه ځوان ستا دعشق په‌غشی مجروح اوما پیدا کی . دپاچا لور دخپل دائی پر سر زرو پا شل او ورته وویل زما محبوب چیری دی ژرسه ماخبره کړه دایی بوډی ودی ته وویل چه ځوان زما په کور کی ناست دی اوستا دیدن غواړی ....

او س نو د خدای له تقدیره د انجلی د پاچا لور د مصر د شهزاده نجل ، او صباته ددی دواده ورا رالحی .

صبا ورار اغله شام له‌دو سپاو، ډك شو، پاچادشام کوتوال راوغوښتی او ورته وویل چه نورقوت الظهر وا خله اوښه ځورشه چه نن شپه ترسهاره دچایوه خا شه هم بی ځایه نسی .

نو نجونی راتولی شوی ، دپاچا دلور پیکی‌ئی ورو اړاو ، - اوربل ئی ور وران کی اوماتوی ئی ور جوړی کړی.نیمه‌شپه نجونی پردی را تولی دی سرئی ور اوبی او دادعشق په گذ ار لگیدلی او په خورا

لودو کر یز وژاړی ، ځکه صبا به له و راسره ومصرته رهی کیږی اوخپل محبوب ئی لاتراوسه پوری ندی لید لی دایی ورله راغله اودپاچا لورئی دنجونو له میانځ په یوه بهانه راولاړه کړه، جامی ئی وربدلی کړی اوځان سره ئی دځوان په لوری وررهی کړه، هلك هم ددی مخی ته راوتلی و، چه دائی ولیده، له خوشحالی نژدی و ، چه هلاك سی ، مگر دی د لاساکی او داډئی ور کی - د دایی له کوره سره ووانه ، او ودغی لویی گو مبتی ته ور ننوانه ؛ اوهلته یوی گوښی ته سره کښیناسنل لاس ئی په لاس کښې سره ور کی او په خبرو ئی پیل و کی.

دپاچا په کور کی نجونی ترا وره شوی چه ناوی شه شوه، په دی کیفیت کوتوال خبر سو ، هره خوا وگرزیده آخرودی گو مبتی ته راغی او دوی ئی په خوازه مجلس سره مشغول ولیدل ، غوږ ئی ورته ونیو چه دی ورته ویل .. زه به ولاړه سم که پاچا خبرسی تاته به ضرر در ورسوی اوبل به ئی رنگ بدسی ؟ ده په ځواب کی ورته وویل .. یو گړی لا کښینه صبا به مصرته ځی اوبیا به نو دمحشر په ورځ سره غواړو، شپه لالو یه ده ! کوتوال په دی نکل پاچا خبر کی نو پاچا سره له خپله وزیره او کوتوال په دغه شپه کښی ودی گوبتی ته راغی ، غوږئی ورته ونیو ، ولیدو چه دوی دواړه کرار ناست یو وبل ته گوری او دا نجلی وائی ! وخت ډیر تیرسو ، دخدای په امان زه به ولاړه سم چه خوك خبرنسی اوزماښاغلی پلار زما په واسطه - ونه شرمیږی . هلك (دکونډی زوی) په ځواب کی هغه پخوانی خبره - تکرار کړه .

په دی حال کی پاچا غوښته چه دوی ونسی ،مگریونیك وزیرئی در لودوپاچا ته ئی عرض و کی .. ای باداره! که تاخدای مهر بانه کړی دادواړه صادق عاشقان دی ، ددوی مینه معنوی او په رښتیانی عشق اومین توب و پښتلی دی - زمامصلحت دادی چه پر دوی دا گومبته له هری خواوتړو او صبا به زما لورچه ددی همزولی ده اوښه ښا یست او کمال لری، په پته خوله مصر یانو ته ورسپره کو او ددی په ځای به و مصرته ولا ړه شی ، نور ددوی آزار اخستل اوخبره سره خیرل گټه نلری ؟ دې دنیك خوا وزیر خبری په پاچا اغیزه و کړه او پس له یوی گړی فکر ځخه ئی کوتوال ته امرو کی چه دغه شپه دا گومبته له هری خوا بند کی اودوی دواړه دالته سره پریږدی . دپاچا امر په ځای شواوپر دوی دا گومبته له هری خوا وتړله سوه .

صبا وزیر خپله لور دپاچا له کوره ځخه په پته خوله راو یستله اودمصروراته ئی دناوی په ځای وسیارله ، وهغوی ومصرته یوړه .

نو هر کله چه سپین ږیری داخپل نکل وپای ته ورساوه ، حضرت مبارك(ص)وشیر د خدای(حضرت علی کرم اله وجهه) ته امر و کی چه ولاړسه گومبتی حال راوړه ، نو که دوی لاژوندی و ، اسلام ورته عرض کړ او بیرته راځه .

علی کرم اله وجهه وشام ته ورغی او گومبتی ته ورننوت ، دوی دواړه هغه شان سره ناست دا وائی : وخت زیات تیر شو زه به ولاړه سم چه خوك خبر نسی او پاچاونه شر میږی . هلك ورته وائی : یوه گړی کښینه شپه لاسته ، صبا خو به په دایمی بیلتون سره جلا کیږو .

علی (رض) پردوی ږغ و کی او اسلام ئی ورته عرض کی ! دوی دواړه په اسلام مشرف شو . او شیر دخدای بیرته دپاك نبی وحضور ته حاضر شو ماجری ئی وحضرت ته وویله ، په دی حال پاك پیغمبر سره له ارانو دمدینی په لوری رهی شو. اوسپین ږیری ته ئی اجازه ورکړ چه وخپل کورته چه دشام په ښار کی و، ولاړ سی .

اوس دانکل « محمدغوث » نامی وه پښتون شاعر په آزاد بحر او وزن کی د ملی سندری په دود داشانی نظم کړی .

دا نکل په (۱٦) بندو کښې شاعر نیولی چه هربندئی له ځانه خپلوا کی اوپر پردو بحورو، اوزانو، عروضی ځلو سرنخوری ، لاندی ۷ بنده دغونی په توگه ولیکل شو :

کسر :

دشام حکایت وایم ښه ئی په زینت وایم
راغی یوسپین زیری له نبی سره روان‌شو دی ورته گویان شو

پیل : ۱ بند :

مل‌سوله پیغامبره سره له نبی سروره سره
نبی ویل سپین زیری کم‌دی ځای کم دی وطن دی چیرته دی رفتن دی
سپین زیری ویل باداره ددو ، کونو سرداره !
په ختیه یوعرب یم اصل ځای زما دشام کرم رښتیا کلام
راځم دحج له لوری اوس روان په کوریم
ډیر له خدا راضی یم ستاله وصله بهرمند شوم په زړگی خوزسند شوم
فضل دجبار وسو په ماگنه گار وسو
یومی حج ادا کی بل می وکی ستا دیداره په باری رویداره
نبی ویل له شام سپین زیری نیك فرجام
وکه وه قصه چه د شام حال راته خرگند شی زړه زما یکسند شی
سپین زیری ویل حضرته غمخور د کل امته !
اوس ښه غوږ راته نسه زه له شام حقیقت وایم ښه‌ئی په زینت وایم
دشام حکایت .....

۲ بند :

سپین زیری ویل رویداره دخدای فضل دی بی شماره
قصه کوم له شام چه بیحده لذت مند دی په‌هر وطن بلند دی
ډیر پکښې باغونه دی ښه عجب سرایونه دی
داسی منقش دی چه چینیان ورته حیرانه کښلی نمایانه
جوړ په درگو هرو دی ډك له سیم وزرو دی
ښی نازکی نجونی چه لری زینت وزیبه زنی لکه سیبه
ډیر پکښې سیلونه دی شپه اوورځ عیشونه دی
ښه کښلی نهرونه ترسرایولاندی بهیږی دبهشت په خبر ښکار یږی
سپین زیری حال تمام وایه ښه‌ئی نام په نام وایه
زړه دنبی اسك شو دشام سیل ته روان شو دی ورته گویان شو
دشام حکایت .....

٣ بند :

نبی مخ واړاوی یارانوته ددو ، کونو گلانوته
راځی چه شام ته ورسو وبه کړو دشام سیلو نه سو دا گړ ملونه
نو نبی سورا روانه ورسره څلور یارانه
سپین زیری خوشحالی کړه چه دداسی خلگومل شوم د دوی به مجلس چل شوم
خو شپی ئی مزل وکاو شام ته ئی برابر وکاو
ډېر هو سیدو چه اوس نژدې راغلو ترشامه کړو به عیش آرامه
شام سو نمایانه دوی واړه شو ، شدانه
سپین زیری ویل حضرته گوره داچه دشام ښار دی څه عجب تیار دی
هلته ئی نماز وکاو ښه ئی په نیاز وکاو
سر سود کوثرو راغی جبرئیل امینه له رب العالمینه
جبرئیل فرمان راوړ نبی ته ئی په داشان راوړ
مه درومه حبیبه شام ته په دنیا جنت وایم ښه ئی په زینت وایم
دشام حکایت . . . . . .

٤ بند :

پاك نبی شام ته کتنه کړه سپین زیری نه پوښتنه کړه
وویل سپین زیری داگومبته لوعظیمه ده په چا مقیمه ؟
سپین زیری کړ لحوابه دگومبت له بابه
وویل خبر نه یم قصه کړم له خولی دپلاره په باری رویداره
قصه وه داسی شانه پاچاو ، عالی شانه
یوه اورئی درلوده هم په حسن په کماله کښلی لکه لعله
اورئی کړه یوسوال خبرسه زما په حاله
وویل بابکه راته جوړ که یوښه باغه زړه می سوتور داغه
پاچا وکو فرمانه ښه باغ ئی کی ودانه
داسی باغ ئی جوړ کی برابرو ، له بهشته نه و ، پکښې زشته
باغ ئې ډېر مشهور سو دهر سړی منظور سو
هر څوك چه ورته راغلو دباغ سیل ته حیران سو دی ورته گریان سو
دشام حکایت . . . . . .

٥ بند :

یوه ورځ تول سو ، لحوانانه دباغ سیل ته روانه
راغلو دشاه باغ ته گرزیدو په هرلوری کښته پورته ، دوری
دوی و ، ډېر خوشحاله دباغ په ښه احواله
وویل لحی چه درومی نسی شاه دلور گذره راپیښ به سی خطره

بیرته را روان شو داخل په یوه خیابان شو
واړه و ، ډېر ستومانه هوری کښېناسته یودمه پریوانه بی غمه
چه کښېناسته له خوابه را رهی شو، په شتابه
پاته سوله دوی د بلهی زوی د گل په خیره شوله نورو هیره
د رب و ، دا قدرته لا تیرنه ، یو ساعته
راغله وخیل باغ ته دشاه لور ستر گی ئې توری ورسره وی پیغلی نوری
سیل و ، د بلبلو گرزیدې په ژیړو گلو
جلا سوله له دوی نه د پاچا لور نازنینه وه تر گل رنگینه
دې وگړ غور زنگه شوې د گنهی شرنگه
راغله په یوه ونه هلك پورته سوله خوابه و ، گل د گلابه
وې کاته یو بل ته اورئی سو کو گل ته
زړونه ئې سره بند سو هریو ولاړو خپلی خواته وې نه کاته شاته
دا هم ولاړه ترښاره ستی د عشق په ناره
سخته گریده دمینی دارنگه زحمت وایم ښه ئی په زینت وایم
دشام حکایت . . . . . .

٦ : بند

داشوه له رنځوره په زړگی شوه ، چوره
تل بی بهیل سره خونابونه له چشمانه پری سور بی ؤ گریوانه
کول بی فریادونه دهغه ځوان له بیلتونه
سپین مخ ئی سپوږمی وه چه اوس سوه له غمه توره ناسته وه سرتوره
دی ولیږو رویباره پی وی وغوښت تول ښاره
ویل نه را معلومیږی په تول ښار کی هغه ځوانه دخوږ زړگی درمانه
هلك هم سو بیطاقته دیار له فراقته
رنگ ژیړ شونډان ئی وچ راغی دشابلو تر کوره غم سو پرده زوره
بلهوویل ای ځوانه ولی گرزی سرگردانه !
زه دی همیش وینم گریوان خبری، سینه چاکه پرخه ئی ته درد ناکه
هلك سو په گریانه بلهوته سو گویانه
وویل مور کی تاته زه خپل کیفیت وایم ښه ئی په زینت وایم
دشام حکایت . . . . . .

٧ : بند

تقدیر ؤ دسبحانه ! په ما خوار پریشانه
یوه ورځ په دی باغ کی مالیدلی یوخراغه اوس ئی گرم سوراغه
بلهو شو له خوشحاله خبره وه له حاله !
وویل هلکه زیاتی مه گرزه غمگینه پیدا سوه ماه جبینه

اوس به کړم علاجه زه ستا دمزاجه
زړه به دی پیوند کړم ته وماته حال تمام کړه په رښتیا کلام کړه
هلک وکړ بیانه بهی ته دخپل ځانه
بهی ویل هلکه کړی خبری زړه کشانی دشاه داور په شانی
زړه ده دهغی کړم ورك دی ځینی خپل صنم
نل کوی وماته ستا دعشق قصه شیرینه همیش ئی اوښکی ځینه
هلک وویل ای موری زما دزړه غمخوری
ژړسه تاوار وکړه خبرراوړه ددلبری چه غم سی له ما لری
بهی ولاړه په منډه وئی نسکی ځنډه !
دشاه په اور ئی ژغ کی لادی ایښی پر څه سردی راوړی می خبر دی
داشوه بی اختیاره دټولو نجونو سرداره
رائی غله ومخ ته له طلائی کی ډك لاسه پری توئی کړی دیاسه
دې ویل نیك نامې بهو عقل تمامی
څه خبر دی را وړ ژر احوال راته ووایه زړگی می سو بی ځایه
بهوویل هغه کښای هم ستا په عشق ویشتلی
پټ ناست دی زما په کور کښې ستا دوصل په غوښتون چه تیر مو سی بیلتون
دې خپل ځان تیار کی دگل په شان سینگار کی
خو دسخته جدائی ده ښه احوال به دخاوت وایم ښه ئی په زینت وایم
دشام حکایت . . . . . .

ددې پورتنی درامی ادبی وضعیت خو په هیڅگون سره دبل چا په ادبی بحور ، عروضو پوری اړه نلری ځکه بندونه ددې درامی په خپل مینځ کښې سره مختلف او ځنی ۲٤ مسری ، او ځنی ئی ٤٤ مسری اوځنی ئی لا ۲۰ مسری هم راغلی دی .

سربیره پردې دوزن په لحاظ هم دهر بند مسری پخپل مینځ کښې اختلاف سره لری ، مثلاً لمړی او دوهمه مسری ئی هره یوه ۷ - ۷ سلیبله اوبیا دریمه مصری ۱٤ سلیبله مگر ۳ - ٤ مسری نو۱٦ سلیبله راغلی ده .

داشان په هربند کی لمړی او دویمه مسری یوه قافیه او دریمه او څلرمه مسری بله قافیه لری . دکیفیت تر آخره پوری دهر بند دوام مومی ، مگر په آخر کی په یوه نسبته اوږده مسری چه غالباً تر ۱٦ سلیبله کمه نوی دوامی دغه بند کسر ته ځان برابره وی اوپرکسر گډیږی .

کسره نوبیا له څلورو مختلفو مسریو څخه مرکب دی چه لمړی او دوهمه ئی ۷ - ۷ سلیبله او دریمه ئی ۱٤ سلیبله راغلی - مگر دلمړی او دوهمی قافیه یوراز او دریمی او څلرمی مسری قافیه نوبیا بل رازی ده .

داشانی دکسر دریمه مسری دوزن په لحاظ له نورو مسریو څخه بیله ، اود حروفو دشمار په سبب تقریباً یو ۸ دوه تر هری مسری لویه ده . فقط .

د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه

(٥)

ښاغلی صدیق الله «رشتین»

١ ـ (خا) دایره قدیمی لاحقه ده چه د «کا» په صورت هم استعمال شوی ده اوله «خوا» څخه مخففه معلومیږی. مګر اوس د (خا) په ځای «خوا» زیات استعمالیږی. مثلا لونه دادی: پښتیخا ـ پکتیکا ـ پښتون خوا ـ واز ه خوا ـ توره خوا او نور.

٢ ـ [شا] دا لاحقه دخواد کلمې سره یو ځای استعمالیږی لکه په (خواوشا) کښې. ددې لاحقې په واسطه هم په پښتو کښې یو څو نومونه جوړ شوی دی لکه: سیداشا ـ میرانشا بخمل شا ـ کجك شا ـ غنم شا ـ [دا ټول د کلیو او علاقو نومونه دی].

٣ ـ (کوټ) که څه هم یوه ځانله کلمه ده مګر دلاحقې په شکل د کلیو دنومو په آخر کښې استعمالیږی لکه پښتون کوت ـ کاشکوټ، سیال کوټ او نور.

٤ ـ (ګرام) دا کلمه په سانسکریت کښې د کلی په معنی ده، خود کلیو د نومو په آخر کښې د لاحقې په صورت هم راغلی ده لکه: کلی ګرام ـ وډی ګرام ـ بټه ګرام ـ کاڼی ګرام.

٥ ـ (پور) دا کلمه په اوستا کښې د شاهی ځای په معنی ده او په پښتو کښې د یوې لاحقې په ډول د کلیو دنومو په آخر کښې را وړل کیږی لکه: اسلام پور ـ لاچه پور ـ شمشپور ـ سلطان پور ـ لال پوره ـ اکبر پوره.

٦ ـ (هار) [١] لکه ننګرهار ـ قندهار، چپرهار

٧ ـ [واره] «راجواره [٢] ـ باجواره = باجوړ

٨ ـ (یالی) لکه بوډیالی ـ پنډیالی

٩ ـ (کنډ) « چمر کنډ ـ ملا کنډ ـ بار کنډ ـ لیکنډی

تصغیر ی لاحقی (پسیده)

په پښتو کښې دیوشی دکمکی والی دښودلو دپاره ډیر «پسینه توری» موجود دی دا توری دوه خصوصیته لری یوداچه دیونوم معنوی تصغیر او کوچنی والی ښیی یعنی په اصل معنی کښې څه ډیر فرق نه راولی بلکه دتصغیر صفت ئې زیاتوی لکه سلیم ګی ـ غټکی ځلمو تی ـ طالب ګوتی او داسی نور او بل دادی چه دوړو کو او کوچنو شیانو دپاره د مستقلو نومونو کار ورکوی یعنی دشیانو په معنی کښې هم فرق راولی اوله غټ جنس

(١) دهار کلمه دفارسی له (سار) سره ارتباط لری (٢) په هند کښې را جواړې د را جګانو علاقو ته وایی.

څخه په یو وړ کی جنس پوری تخصیص ورکوی ، لکه (لر و کی ، چړ و کی) چه دمستقلو نومو په‌حیث استعمالیږی که څه هم د کوچنی والی‌معنی پکښې پرته او ملحوظه‌ده هر کله چه زمونږ اصلی مقصد دنویو نومو په جوړونه کښې دی نو ځکه په مثالونو کښې‌هم دوهم‌ډول نومونه راوړل کیږی . ددغو خصوصیتونو دبېلونی دپاره یوعمومی اساس دادی چه په اشخاصو او عقلمند و کښې لومړی خصوصیت اوپه شیانو کښې دوهم خصو صیت پیدا کوی چه دادی په‌وروسته ډول ښودل کیږی :

۱ ـ (کی ، کی) دا لاحقی داسماؤ په آخر کښې راځی اودیو وړو کی او کوچنی شی دپاره تري ځانله نومونه جوړیږی لکه :

له جام څخه جام کی	له کوته څخه کوته کی
« غر « غر کی (کوه‌بچه)	« جارو « جارو کی
« شادو « شادو کی	« جولا « جولا کی (عنکبوت)

۲ ـ (کی ، کی) دانښکی داسماؤ په آخر کښې دوړو شیانو دنومو جوړولو دپاره استعمالیږی او کله داسم او لاحقې داتصال دپاره (و) هم راوړل کیږی لکه :

له‌ډنډ څخه‌ډنډ کی=ډنډو کی (۱)	له چاړه څخه چړو کی
« پنډ « پنډ کی = پنډ و کی	« درې « درو کی
« کټ « کټکی	
« جال « جالکی	

۳ـ (تی ، تی) داعلامې هم د نومو په پای کی دوړاندې مقصد دپاره را وړل کیږی لکه :

له منگی څخه منگو تی	له کټوی څخه کټوتی
« چرگ « چرگوتی	« شکری « شکروتی
« مشر « مشروتی	

٤ ـ (ری ، ری) دا توری هم داشیاؤ یعنی دذات دنومو په آخر کښې د کوچنیو نومو دجوړښت دپاره راځی لکه :

---

(۱) دا خبره یاد لرل پکاردی‌چه‌په تولو تصغیری نومو کښې کله کله دنوم اولاحقې ترمنځ یو (و)هم راوړل کیږی او کله داولی کلمی (ی) په (و) بدلیږی .

له کندو څخه کندوړی	له بچی څخه بچوړی
« کدو « کدوړی	« کب « کبوړی
« دیګ « دیګوړی	« کوزې « کوزه ړی
	« تمبی « تمبه ړی

۵ ـ (ری) دا لاحقه هم دځینو نومو په آخر کښې راغلی ده لکه :

له مېزك څخه مېز کوری له خیټې څخه خیټوری

« چاټی « چاټوری « څوخکی « څوخکوری (نولهٔ آفتاوه)

« ګډ « ګډوری « ټیک « ټیکوری

۶ ـ (ګوټی ، ګوټې) دا کلمی چه له (ګی ، ټی) څخه مرکبی معلومیږی ؛ د کوچنو نومود جوړونی دپاره د نورو نو موپه آخر کښی را وړل کیږی لکه :

له جام څخه جام ګوټی ، له بیاتی څخه بیاتی ګوټې ، له تختی څخه تخته ګوټې ،

۷ ـ (ګوړی) دا لاحقه له (ګی ، ړی) څخه مرکبه ښکاری او دوړاندی مقصد دپاره استعمالیږی لکه :

له انار څخه انار ګوړی (اننګوړی) ، له وز څخه وز ګوړی ، له چرګ څخه چرګوړی (۱)

۸ ـ (نګړی) داهم یوه تصغیری لاحقه ده چه دځینو نومو او صفاتو په آخر کښې راغلی ده لکه :

له پیشو څخه پیشو نګړی	له خوار څخه خوار نګړی
« بلی « (۲) بلو نګړی	« تور « تور نګړی
« بچی « بچو نګړی	

۹ ـ (ی ، ی) دا توری د تصغیری نومو د جوړ ولو د پاره د هغو نو مو په پای کښې راځی چه په (ك ، ګ) مختوم وی لکه :

له ټوپك څخه ټوپکی ، له ښانك څخه ښانکی ، له سټك څخه سټکی ، له پرتوګ څخه پرتوګی .

تبصره : په پښتو کښې ځینی نوری تصغیری لاحقی هم شته خوډېر مثالونه نه لری اودادی :

۱۰ ـ (چکی) لکه له غل څخه غلچکی .

---

(۱) په دی مثال کښې یو (ګ) د تکرار په وجه غورځیږی (۲) بلی په اردو کښې پیشوته وایی .

١١ ـ (ځکی) لکه له نری څخه نرو ځکی ،

١٢ ـ (کنډي) لکه له پیش څخه پیش کنډی .

١٣ ـ (چی) لکه له دیگ څخه دیگچی .

١٤ ـ (چه) دا لاحقه دفارسی لاحقه ده مگر په پښتو کښې هم یوڅو مثاله لری لکه :
ډولچه ـ تاخچه ـ نیمچه

د اسم صوت لاحقې

د صوت نومونه په پښتو کښې پر دوه ډوله دی : یو قسم ئې بسیط نومونه دی چه هغه لاحقی نه لری لکه : ډز ، گړز ، تس ، چغ ، ترنگ ، کړنگ ، شرنگ او نور ، او بل قسم ئې اشتقاقی او جوړ شوی نومونه دی چه هغه له بسیطو اصواتو څخه دلاحقو په لگولو جوړ یږی . اشتقاقی اصوات (غږونه) د زیاتو او ډیرو آوازونو دحکایت په غرض استعمالیږی او د کثرت او مبالغی ښودلو په غرض راځی چه بیان ئې په وروسته ډول دی :

١ ـ (کی) دا لاحقه د دوه حرفی صوت په آخر کښې راځی لکه : پشکی ـ کشکی ـ ښکی ـ شرکی ـ پرکی او نور (١)

٢ ـ (هار) دا ښکه د هر ډول اصواتو په آخر کښې راوړل کیږی لکه : غپهار ـ ډبهار ـ خرپهار ـ درزهار ـ ترنگهار ـ کړنگهار او نور .

٣ ـ (١) دا علامه غالباً دهغه دوه حرفی اصواتو په آخر کښې چه اول حرف ئې زور ولری او د درې حرفی او څلور حرفی اصواتو په پای کښې استعمالیږی لکه :
تسا ـ غپا ـ ډزا ـ خرپا ـ غربا ـ گړزا ـ دربا ـ شرنگا ـ غړمبا ـ ترنگا ـ کړنگا او نور .

٤ ـ (ی) دا توری غالباد درې حرفی او څلور حرفی اصواتو په آخر کښې راځی لکه :
خرپی ـ دربی ـ غربی ـ گړزی ـ غړمبی ـ شرنگی ـ کړنگی او نور

مصدری لاحقی (پسینه توری)

مصدر په پښتو کښې هغې کلمې ته وایی چه دفعل او کار نوم وی او زمانه ترې نه معلومیږی په همدې وجه مصدر ته « فعلی نوم » هم ویل کیږی . دمصدر دجوړ ولو او اشتقاق

---

(١) دارقم اصوات دقند هار دخوا اصطلاح ده نور پښتانه ئې نه استعمالوی .

دپاره په پښتو کښې ځینې علامې او نښکې شته چه دادی وروسته بیانیږی .

۱ـ (ل) «۱» دالاحقه دځینو کلمو په آخر کښې دمصدر دجوړولو دپاره پیوستیږی چه دا ډول مصدرونه « لام والا » مصدرونه بولی. مگر په پښتو کښې دلام وا لامصدرو نو زیاته برخه اصلی او وضعی مصدرونه دی او کوم اصل اومأخذ نه لری اویا مونږ ته نه معلو میږی لکه: شړل ـ کتل ـ ساتل او داسی نور .

او بله برخه لام والا مصدرونه اشتقاقی دی چه له بلې کلمې څخه مأخوذ بلل کیږی .

دار از مصدرونه څومره چه تراوسه معلوم شوی دی داوروسته مثالونه اوصو رتونه لری :

الف:ـ هغه دی چه دشیانو اوذاتی نومو څخه جو ړیږی لکه :

له کسی څخه کسل	له غوږ څخه نغوږل	
« بوڼ « بوڼل	« غری « نغرل	ددې دوومصدرو په اول کښې یو «ن» .
« داړې « داړل	« وت (شگاف) څخه وتل	هم زیات شوی دی
« پسول « پسولل	« داغ څخه د اغل	
« گانې « گانل		

په دې ډول ځینې نور مثالونه هم شته چه په هغو کښې داشتقاق مشابهت لیدل کیږی لکه (تلی، تلل ـ څنی څڼل (بافتن چارپائی)ـ لیمه ، لیدل ـ خوله ـ خوړل)دغسی (نغوتل) چه د تحریك او اشارې معنی ور کوی ؛ ښایی چه له (گوتی) څخه مأخوذوی ځکه چه اشارت په گوته کیږی اود« غ ، گ » تبدیل په پښتو کښې عام دی .

ب : هغه مصدرونه دی چه له اصواتو څخه جوړیږی لکه :

له غپ څخه غپل	له وه څخه وهل (۲)	
« توخ « توخل	« توك « توکل	ښایی چه دا مصدرونه په اصل کښې پوکول
« چوپ « چوپل	« پوك « پوکل	توکول وی اوبیا وروسته مخفف شوی وی .
« ترپ « ترپلل		

ج ـ هغه مصدرونه دی چه له صفاتو څخه جوړ شوی وی لکه :

---

(۱) په سنسکریت کښې (ن) دمصدر علامه ده لکه پرې ورتن (پرې وتل) ندن (ناړل). هر کله چه «ن» او«ل» همیشه یوپربل باندې اوړی له دې کبله «ل» په پښتو کښې دمصدر یوه قدیمی لاحقه بللی شو .

(۲) ښایی چه په اول ضرب کښې به چا له خولی نه (وه) ایستلی وی نو پس له هغه به ددغه فعل دپاره وهل ایښود شوی وی .

له مل څخه ملل ـ له مړ څخه مړل ـ له روڼ څخه روڼل ـ له تـګ څخه تګل .

د ـ په پښتو کښې ځینې داسې لام والا مصدرونه هم شته چه اول جزء ئې فعلي نوم وی او ځانله ذیو فعلي کیفیت او حالت په معنی استعمالیږی . په داسې مصدرو نو کښې داصل معلومول څه قدر اشتباه لری او په یقین نه معلومیږی چه مثلاً لوټل له « لوټ » څخه اخستل شوی دی او که نه خبره بالعکس ده .

مګر سره ددې زما په خیال په دغه ډول نومونو کښې کوم چه بسیطوی اولا حقه نه لری هغه دمصدر مأخذ بللی شو او کوم چه بسیط نه وی او لاحقه لری ؛ هغه به غالباً له دغې مفردی کلمې څخه مأخوذ او مشتق وی . ددې قسم مصدرو نو مثالو نه وروسته ښودل کیږی لکه :

ویښ ، ویل ـ ویاړ ، ویاړل ـ څار ، څارل ـ یرغل ، یرغالـل ـ لوټ ، لوټـل ـ وبش وبشل ـ یون ، یونـل ـ ګوټ ، ګوټـل ـ دانـګ ، دانـګل ـ زغم ، زغمل ـ شمېر ، شمېرل چېر ، چېرل ـ زبېښ ، زبېښل ـ لید ، لیدل ـ اخېر ، اخېرل ـ تپوس ، تپوسل ـ تول ، تلل بول = قول ، بولـل .

٢ ـ (ول) داهم یوه مصدری لاحقه ده او د نورو کلماتو په آخر کښې دمصدرونو دجوړولو دپاره راوړل کیږی . دې قسم مصدرونو ته « ول والا » مصدرونه وایی په دې قسم مصدرونو کښې ځینې داسې مصدرونه شته چه اصلی رنګ لری او له کومې بلې کلمې څخه مأخوذ نه معلومیږی لـکه (پرزول ـ ګرزول ـ پړسول) لاکن دول والا مصدرونو زیاته برخه مشتقی دی اوضرور یو اصل اومأخذ لری دارقم ول والا مصدرونه په پښتو کښې نسبتاً ډېر دی او په وروسته ډول ئې دجوړېدو صورتونه او د نمو نې په څېر یو څو مثالونه ښودل غواړو .

الف : لومړی صورت ئې دادی چه داشیاؤ یعنی د لیدونکو شیانو د نومو په آخر کښې « ول » راځی او ول والا مصدرونه ترې جوړیږی لـکه :

له زمنځ څخه ز منځول	له باد څخه بادول
« میـخ « میخول	« بار « بارول
« کـام « کـامول	« ځای « ځایول
« کـز « کـزول	« لویشت « لویشتول
« غـلبیل « غلبیلول	« نـال « نـالول
« کـولپ « کولپول	« بـاټ « باټول
« چـانړ « چانړول	« ډانډس « ډانډسول

ب : دوهم صورت دادی چه دبسیطو اصواتو په آخر کښې « ول » پیوستیږی او ول والا مصدرونه ورځنی تیاریږی لکه :

له ډب څخه ډبول	له غرب څخه غربول
« غـبز « غبزول	« بنـگ « بنـگول
« رپ « رپول	« کړس « کړسول
« ډز « ډزول	« ترنـگ « ترنـگول
« تـغ « تغول	« شرنـگ « شرنـگول
« توخ « توخول	« غړمب « غړمبول
« کړ « کړول	« کړنـگ « کړنـگول

ج : دریم صورت دادی چه « ول » دمجردو نومو په آخر کښې راځی ، دغه مجرد نوم (۱) دفعل نوم وی او که دیو حالت او کیفیت نوم وی لـکه :

له لیو څخه لیوول	له ویرې څخه ویرول
« میچ « میچول	« ځور « ځورول
« تـال « تـالول	« رنـځ « رنځول
« غوبل « غوبلول	« جنـگ « جنـگول
« ربـړ « ربړول	« شـرم « شرمول
« سینـگـار « سینـگـارول	« رواج « رواجول
« تاوان « تاوانول	« پور « پورول
« ډار « ډارول	« لور (رواداری) لورول

---

(۱) : مجرد نوم هغه دی چه لیدونـکی شی نه وی او مسمی ئې خارجی وجود نه لری دې ډول نو موته د کیفیت نومونه هم وائی .

د : څلورم صورت ئې دادی چه « ول » دصفاتو په آخر کښې راوړل کېږی لکه :

له تور څخه تور ول	له اوږد څخه اوږدول	له مات څخه ماتول
« پاك « پاکول	« جګ « جګول	« ودان « ودانول
« زیات « زیاتول	« ډېر « ډېرول	« وران « ورانول
« آسان « آسانول	« لېږ « لېږول	« یاد « یادول
« هېر « هېرول	« سوړ « سړول	« تود « تودول

ه : کله د « ول » علامه دفعل حال د فعلی مادی په آخر کښې راوړل کېږی او ول والا مصدرونه ترې جوړیږی اوخالی دا وروسته مثالونه لری لکه :

له خیژی څخه خیژول	له نښلی څخه نښلول
« الوزی « الوزول	« اوړی « اوړول
« کښېنی « کښېنول	« خوری « خورول
« رغړی « رغړول	« لولی « لولول
« څملی « څملول	« لېږدی « لېږدول

ز : کله دمصدر دفعلی مادې په آخر کښې « ول » پیوستیږی او ول والا مصدرونه لحنی لاس ته راځی چه خالی دایو څو مثالونه لری لکه :

له خندل څخه خندول	له لامبل څخه لمبول
« ژړل « ژړول	« زانګل « زانګول
« غپل « غپول	« نڅل « نڅول
« توخل « توخول	« دانګل « دانګول
« اغوستل « اغوستول	« غړمبل « غړمبول

۳ ـ (یدل) داهم یوه مصدری لاحقه ده ، چه اکثر د لازمو مصدرونو (۱) د جوړولو دپاره دکلماتو په آخر کښې راوړل کیږی . دې قسم مصدرونوته « یدل والا » مصدرونه وایی . یدل والا مصدرونه کټ مټ دول والا مصدرونو پشان دغه وړاندې شپږ صورتونه لری . دیدل والا مصدرونو د اشتقاق او جوړونی لار آسانه ده . په تولو « ول والا » مصدرونو کښې چه د (ول) په ځای (یدل) راوړی شی نو یدل والامصدرونه ترې جوړیږی

(۱) : داور یدل اولور یدل مصدرونه استثناً متعدی دی .

ټوکی ټکالی

ملنګه

ښاغلی محمدولی «ځلمی» له قندهاره

خدای دی را وله ! چیری ئی خړوسه ؟

دادی انور آغا لا ناست دی والله ترا رسه موستا دخپل بیان کاوه ، هو ، ملنګله دامی لا خاګینه اوغوړه ډډوی نه وه ورکړی ، چیری توبه که می ورکړی وای ولا که دی په ګرده میدان مخ را ګرزولی وای اولکه خپل خاوند په میدان کی بې چپه چپه کتلای او هیچاته بې سمه وراشه نه کولای . . .

ایدونه به ئې خبر ؟ نیلی دی ښه ساته . هودا هفته فرقه مشر صاحب دسپی جنګی میدان ته راځی ، ملنګه چه بیامو هلته سترګی په کښته نکړې . . . ؟!

والله آغا ! فرقه مشر صاحب دی خدای لری که دی نه وای چا به موږ ته شوق را ایله کولای ؟

ګانډو ! تاته لاتر ! رسه نه دی معلوم ! دګرده عمر لمونځونه اوروژې دی بیرته راو ګرزوه . زموږ سګ وانانو سره خورا مینه لری ، په اوله ورځ چه راغی ء پرستر ګرمی وپیژاند چه شوقی ځوان دی .

هو ، والله آغا چه راغی دستی ئې په ماپسی حاضر باش را واستاوه چه ته دی خړرا وله چه وې ګورم . . .

مګر ملنګه موږ ویل چه دی یولوی سړی دی زمونږ اودده ئې سره څه ؟ سبا نبا ئیده خوشکه راڅخه خپه نسی ؟ !

ملنګه شناخت به ورسره ټینګه ؤ، ته نه وینی هغه کسان چه دقو مندان صاحب شناخته خیل دی ګرډه ور ځ په خلقو ناحقه دعوی کوی ؟

ته هغه خبره پرېږده، دادخړه کی سپی زوی و ګوره، مورئې خورا خړوړې او بدپوزه ده، دی لا کوتری وه، چه ما په درې سوه روپې رانیوی . . .

که وخپل خاوند ته سوی و . ولا که په ګرده دنیا چرت خراب کړی.

را اړه وئی دمور څه ته ګوری، د ک دی او که تش چه دسهار را ایسی خمار یان یو، څه و کم ستاخا طر را باند ګران دی، والله سهار را ایسی می نیك محمد لالا ګرد بازا رونه پسی مت کړه چه دغه یوه ښه پوړۍ می پیدا کړه .

هو، ملنګه ! موږ ته ښه چرس چیری را رسیږی ګرده ئی وتند خیټو او ګیډ وروته وړی، دوی دی وهی څه خیر په آخرت بې سره سپینه ؤ

آها ! آها ! ما ینه ئې دمشرقه بیاتر غربه څه ؤ څه کوم . . .

دود پردود لعنت پرمر دود ، ګنامو پرهغوچه ئې نه نیسی دود

* * *

شکردې شلمی پېړۍ په موږ کښې هم متخصصین پیدا کړه، که نوره دنیا دا ټوم له دوده ورا نېږی، زموږ چرسیان اوملنګان به زموږ وطن دزلمیا نو بد نو نه دچر سو په دود وران کړی ؟ !

خصوصاً چه لوی غټان خلك هم کومك اومر سته ورسره و کړی ؟ !

د پښتو چاپ شوی کتابونه

(۱) پښتانه شعراء لومړی ټوک، لیکونکی عبدالحی حبیبی او ملګری.

(۲) پښتانه شعراء دوهم ټوک لیکونکی صدیق الله رشتین او ملګری.

(۳) د پښتو سیند، لیکونکی محمد ګل مومند

(٤) د ژبې لپاره « « «

(٥) په پټه د پښتو پلټنې برهان الدین کشککی

(٦) پټه مینه « «

(۷) لس زړه لغتونه « محمد اعظم ایازی او ملګری

(۸) سپېڅلی پښتو « لعل محمد کاکړ او حبیبی

(۹) قواعد پښتو « محمد اعظم ایازی

(۱۰) پښتو زبه لومړی ټوک « مولوی صالح محمد

(۱۱) « دوهم « « «

(۱۲) د پښتو کلی لومړی « « امین الله زمریالی، خادم

(۱۳) « « دوهم « « « «

(۱٤) « « دریم « د تالیف خانګه

(۱٥) « « څلورم « عبدالرؤف بینوا

(۱٦) « « پنځم « ګل پاچا الفت

(۱۷) د پښتو کلی شپږم « صدیق الله رشتین

(۱۸) د کوچنیانو اخلاقی پاڼه مترجم قیام الدین خادم

(۱۹) نیکبختی لیکونکی ارسلان سلیمی

(۲۰) د پښتو لیک ښوونکی « محمد ګل نوری

(۲۱) د پښتو ښوونکی دوه جلد « محمد عثمان پښتون

(۲۲) خود آموز پښتو - « دقندهار ادبی مجلس

(۲۳) پښتو متلونه لیکونکی زمریالی محمد قدیر تره کی

(۲٤) ملی هنداره دوم ټوک « محمد ګل نوری

(۲٥) د خوشحال خان کلیات مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی

(۲٦) د القاچ عبد دیوان « « «

(۲۷) پښتو ارتقاء نظر فقه اللغة لیکونکی یعقوب حسن

(۲۸) پښتو خان ساور مترجم ارسلان سلیمی

(۲۹) د پښتو اصلاحات او محاورې لیکونکی محمد ګل غوری

(۳۰) لوی حمدشاه بابا مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی

(۳۱) ملی سندری لیکونکی محمد ګل نوری

(۳۲) نوی ژوندون « قیام الدین خادم

(۳۳) پښتنې مېرمنې « عبدالرؤف بینوا

(۳٤) پټه خزانه د عبدالحی حبیبی ترجمه او تعلیق او خپرونه

(۳٥) بله د ښوه لیکونکی ګل پاچا الفت

(۳٦) لغوی خپرنه « « « «

(۳۷) د پسرلی نغمه « « «

(۳۸) ملی پسرلی « عبدالحی حبیبی

(۳۹) د مېنې مینه د رادیو د نشریاتو له خوا

(٤۰) دوه سره مین و رونه محمد رفیق قانع

(٤۱) د پښتو کلی لومړی لار ښوونکی لیکونکی صدیق الله رښتین

(٤۲) د غنمو وږی (منظره) عبدالرؤف بینوا

(٤۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ تر اسلام دمخه اول ټوک عبدالحی حبیبی

(٤٤) پښتو سندری - ټولګه ونکی « الفت »

(٤٥) د پښتو دادب تاریخ - مؤلف « رښتین »

(٤٦) د پیر محمد کاکړ دیوان - مدون او مقابله کونکی « بینوا »

(٤۷) د میرویس نیکه تاریخ عبدالرؤف « بینوا »

(٤۸) د دار مستتر پښتو خپرنې پښتو کوونکی عبدالحی «حبیبی» او « بینوا »

(٤۹) د ژوندانه لاری د ښاغلی « سیف » ترجمه

(٥۰) خان جهان لودی « « «

کتابخانه عمومی مطبعی کشی چاپ شو